# اعلان

گرانو او قدرمنو لوستونکو پښتو ډاټ نیټ د دې کتاب سره ډیره خواري کړی ده او په ډیر عاجزانه طور ئې تاسو ته دَ مطالعې په غرض ډالۍ کوي د دې کتاب بې اجازت نقل کول ، چاپ کول یا زمونږ نسبت ترې لرې کول نه صرف دا چې اخلاقی جرم دے بلکې ډیر سخت منع دی

پښتونستان

پښتو ډاټ نیټ

Distribution ,posting or copying is strictly prohibited without written permission of Pukhto.Net

Pukhto.Net



څاڅکي
څاڅکي
فلک ناز بنگش
فلک ناز بنگش

## ټول حقوق محفوظ دي


د کتاب نوم ـــــ خاخکي

ليکوال ـــــ فلک ناز بنگش

اشاعت ـــــ جنوري ۲۰۰۹ء

کمپوزر ـــــ ارشاد خان (پښتو اکېډيمي پېښور)

شمېر ـــــ ۱۰۰۰

پرېس ـــــ ضياء سنز پرنټرز

بيعه ـــــ ۱۰۰ روپۍ


Pukhto.Net

# تړون

**د خپل مشر ورور ملک نصرالله جان (مرحوم)**

**په نوم**

چې په شعر او ادب کښې زما اولنے استاد او رهنما وو.

فلک

Pukhto.Net

# خپله خبره

(از فلک ناز بنګش)

افلاطون وائي چې تول شاعران نقال وي. قدرت د شاعرانو په ذهن کښې يو خيال واچوي او شاعر ئې په الفاظو کښې نقل کړي. ارسطو د شاعرئ په ناقدانو کښې بابا آدم ګڼلے شي. هغوي وائي چې په شاعرئ کښې عام طور باندې دوه نقصونه وي.

١. بنيادي نقص
٢. اتفاقي نقص

بنيادي نقص هغه وي چې يو سړے شاعر نۀ وي خو شاعري کوي. د ارسطو په خيال کښې دا نقص د معافئ قابل نۀ دے دوېم نقص اتفاقي وي. لکه چې يو شاعر په هوسئ ليکل اوکړي. خو هوسئ ئې چرته ليدلې نۀ وي او دا پته ورته نۀ وي چې د هوسئ ښکر وي او که نه.

د بنيادي نقص فيصله خو زۀ نۀ شم کولے خو دا دعوئ ضرور کوم چې ما هوسئ ليدلې ده. د شاعرانو د فطرت برخلاف زۀ هر چاته خپل شعرونه نۀ وايم. شايد چې ددې وجه د ارسطو والا بنيادي نقص وي. زۀ دا دعوئ هم نۀ کوم چې زۀ يو

پيدائشي ، الهامي او قدرتي شاعر يم .بس دا يو څو ښاښکي د شعر او ادب سره زما د ميني يو اظهار اوګڼئ .په دې اړخ زۀ نوره تبصره کول نۀ غواړم .د مقيد خبره :-

زړۀ چې غلبل شي نو الفاظ چهانوي
دا زمـــانــــه ورتــــه شــاعر وائي

زۀ د خپل محترم استاد پروفېسر خالد خان صبب ډېر مشکور يم چې په دې کارکښې ئې زما صحيح رهنمائي او حوصله افزائي اوکړه.

د ډېرو مرحلو نه پس چې څۀ پاتې شو هغه دا دي ستاسو په وړاندې دي. او په ډېرو ئې قبول کړئ.

فلک ناز بنګش
۱۷ اکتوبر ۲۰۰۸،

Pukhto.Net

# د فلك ناز بنګش شاعري

ــــــــــــ (از پروفیسر خالد خان خټک)

زمونږ د جدید نسل د یو نمائنده شاعر فلک ناز بنګش د پښتو شاعرۍ دا ړومبی مجموعه ستاسو په لاس کښې ده.

شاعري د فنون لطیفه د ادب د څانګې یو اهم او بنیادي رکن دے. چې درې مفید مقاصد لري.

١ د اخلاقي اقدارو ترویج و اشاعت

٢ د جمالیاتي ذوق نشوونما

٣ د قومي ورثې تحفظ او خوروَل

د پښتو شاعرۍ ټولو لوستونکیو ته معلومه ده. چې دا شاعري د یو ډېر ترقي یافته دور نه راتېره شوې ده. هغه دور ته مونږ کلاسیکي دور وایو. خوشحال، رحمان، حمید، علي خان، خواجه محمد بنګش. کاظم خان شېدا او څنه نور د خپل وخت نمائنده شاعران دي چې هر څوک ئې پېژني.

د شلمې صدۍ په درېمه لسیزه کښې د ١٩٣٠. خواؤ شا زمونږ شاعرۍ نوي اثرات قبول کړل او د پښتو د جدید دور

اغاز اوشو ـ فضل محمود مخفي او راحت زاخیلي د جدیدې شاعرۍ ابتداء اوکړه ـ رو رو هم په موضوعاتو کښې او هم په هئیت (FORM) کښې بدلون راغلو ـ

د غزل سره سره پابند او ازاد نظم هم رواج اوموندلو ـ سمندر ، مفتون ، رسا ،اجمل او غني د جدیدې شاعرۍ مشهور نومونه دي ـ بل خوا الفت ، خادم او بېنوا دغه فن ته ډېره ترقي ورکړه ـ او د پښتو شاعري ئې جدید عصري تقاضو سره هم آهنګه کړه ـ

د پښتو سره سره په اردو شاعرۍ کښې هم نوي خیالات راڅرګند شول او جوش ، فیض او ساحر لدهیانوي او عدم د شاعرۍ نه زمونږ پښتانۀ شاعران هم متاثر شول ـ

ملک فلک ناز بنګش زمونږ د جدید نسل هغو شاعرانو سره تعلق لري چې له تېرو دېرشو کالو ۱۹۷۷ تا ۲۰۰۸ راسې په پښتو کښې شاعري کوي ـ

ما ددۀ د شاعرۍ ابتدائي نمونې په ګورنمنټ کالج هنګو کښې د ۱۹۷۸، او ۱۹۷۹ ، په دور کښې اوریدلې وې ـ دے د شروع نه یو دروند ، سنجیده او باشعوره هلک وو او ژوند ته ئې ډېر د اهمیت په نظر کتل ـ ددۀ تعلق د یو تعلیم یافته خاندان سره دے چې د مشهور ماهر تعلیم ملک عبدالغني غوندې عالمان په کښې موجود وو ـ دا د هنګو د بنګشو یوه اهمه کورنۍ ده ـ

خوش قسمتی نه فلک ته د اعلی تعلیم موقع هم په لاس ورغله .او د تاریخ (History) غوندې یو اهم او معلوماتي مضمون کښې ئې د ایم .اے (M.A) ډګري واخستله .او په فوخ کښې ئې د کمېشن اخستلو نه پس په کاکول کښې ددغه مضمون تدریس شروع کړو .داسې د ے د دنیا د اهمو واقعاتو او تحریکونو نه خبر شو بلکې د دغو نه ئې اثر هم قبول کړو.

ورستو ئې د قانون خصوصي مطالعه اوکړه او د ایل ایل ایم (L.L.M) ډګري اخستلو نه پس ئې د فوخي قوانینو سپېشلائزیشن اوکړو .او داسې د فوخ دغې څانګې پورې مربوط شو .او د لیفټیننټ کرنل په عهده مامور شو.

خو د خوشحالۍ خبره دا ده چې د شاعرۍ خپل شوق ئې ورسره جاري اوساتلو .او وخت په وخت ئې خپل خیالات او احساسات د شعر په ژبه بیان کړل .داسې د فلک د شاعرۍ موده کم از کم تر دېرشو کالو رسي.

په موجوده مجموعې کښې شامله د بنګش شاعري مونږ په درې ادوارو کښې وېشلے شو .چې د هر یو دور عرصه تقریباً لس لس کاله جوړېږي.

اول دور د ۱۹۷۷ نه تر ۱۹۸۸ پورې خور د ے .چې د بنګش د ابتدائي دور شاعري ده .په دغه دور کښې په دۀ باندې رومانې او مقامي رنګ غالب د ے .د کالج او د

یونیورستی د زمانې بې فکرې ، خوشګوار ماحول او د مستۍ او ښکلا اثرات پرې موجود دي.

,, د کالج دور ،، او ,, د هنګو مازیګرے ،، دوه داسې نظمونه دي چې د غه خصوصیات پکښې واضح دي. ورسره ورسره په غزل کښې ئې هم نمونې موندلے شي.

دا د حُسن مملکت یو شهزادګۍ وه
خو د عشق په امتحان نه پوهیدله

څنګه ښکلې ورځې شپې وې څنګه ښکلې زمانې وې
چې زما د سترګو تنده . ستا د سترګو پېمانې وې

ما وئیل چې د هنګو مازیګرے دے
خو هغه تر مازیګره پاتې نۀ شوه

د خپلې سرسبز و شادابې علاقې د رڼو اوبو چینو ، شنو شنو باغونو ، تازه هواګانو او خوشبوداري فضا د فلک په ذهن ډېر مثبت اثرات غورزولي دي . داسې اثرات چې ورستو ددۀ په کلام کښې هم ظاهر دي . په بنیادي ډول د غه ابتدائي دور د روماني خیالاتو او د مقامي اثراتو دور دے.

Pukhto.Net

دويم دور د ۱۹۸۸ نه تر ۱۹۹۸ پورې عرصې باندې مشتمل دے .دغه وخت د بنګښ شاعرۍ او خاص طور ددهٔ غزل ډېر په ترقۍ وو.ددهٔ په خيالاتو کښې وُسعت ، سنجيدګي او معاشرتي اثرات څرګند دي .اوس دے د علاقاني اثراتو نه علاوه د ملکي او بين الاقوامي حالاتو نه هم اثر قبولوي .دے د معاشرتي خرابو حالاتو ، غُربت ، جهالت ، خان خانۍ او مطلب پرستۍ ، بې اتفاقۍ ، لُوټ مار ، قتل و غارت او د فرقه پرستۍ سخت خلاف دے .او د دغو خلاف په خپل کلام کښې بر ملا اظهار کوي.

منم په دار باندې د حق خبرې سر پرېکوي
خو دا هم لويه ناداني ده چې څهٔ اونهٔ وانې

د فلک د شاعرۍ دا دويم دور ډېر اهميت لري. که يو خوا دے د خپلو رونړو د ناساپي مرګ د سختو صدمو سره مخامخ کوي نو بل خوا د ټول ملک او خصوصاً د پښتونخوا په ځنو سيمو کښې بدترين فرقه ورانه مظاهرې کيږي او بې شمېره بې ګناه ، بې خطا کسان په خپلو وينو لمبولے شي .بنګښ ددغو صدمو ژور اثر اخلي .دے د ابتدا نه د هر قسم فرقه پرستۍ ، نسل پرستۍ ، تعصب او بُغض و کينې نه پاک دے .صرف او صرف د انسانيت طرفدار دے.

زهٔ قائل په کښې د رنګ و نسل نه يم
زهٔ د ټولو عاشقانو احترام کړم

د فلک ددغه دور شاعري ډېره پخځګي لري . دے د خپلو ملکي او قومي حالاتو نه مطمئن نهٔ دے . دے دلته دي ښکلي وطن کښې امن ، سلامتي ، تعليم ، صحت ، مينه ، رورولي ، هم آهنګي ، مساوات او خوشحالي غواړي.

دے د پښتون قوم د جهالت ، بې اتفاقي ، قتل و غارت ، جاهلانه رسم و رواج ، پسماندګي هم سخت خلاف دے.

دا خبره د يادولو وړ ده چې فلک دغه اکثر موضوعات د غزل په چوکاټ کښې بيان کړي دي . ځکه ددهٔ په دي مجموعې کښې اکثريت د غزلو دے . خو دهٔ خپل خيالات ډېر په فنکارانه انداز کښې بيان کړي دي او پروپېګنده ئې ترې نهٔ ده جوړه کړې . هم دغه شان ئې وخت په وخت په قطعاتو کښې هم طبع آزمائي کړې ده . ددهٔ لهجه نرمه او پسته ، ژبه ئې روانه او خوږه او الفاظ ئې خالص د پښتو دي . شاعري ئې اسانه او عام فهم ، تشبيهات و استعارات ئې ساده او اسان او قافيې او رديفونه ئې لچکدار دي . شاعري ئې ټوله پابنده ده . نو ځکه عام خلق او کم تعليميافته لوستونکي هم پرې اسانه سره پوهيږي . زهٔ دا ددغه شاعر يو کمال ګڼم . د کوم شاعر د کلام دپاره چې د ډکشنرۍ ضرورت وي هغه به څهٔ کلام وي.

د فلک د شاعرۍ دريم دور د ۱۹۹۸ نه تر اوسه ۲۰۰۸ پورې دور دے.

هر چاته پته ده چې په تېرو لسو کالو کښې زمونږ په ملک کوم عذاب نازل شوے دے او د ژوند هره شعبه نې په سرۀ اور کښې اچولې ده. ددغو حالاتو نه د بنګښ غونډې د حساس شاعر متاثر کېدل ناګزير وو. نن چې دلته د وينو کوم سېلاب بهيږي د امن و امان صورت حال انتهائي خراب ، غېر يقيني سياسي حالات . خوف و هراس د قومي ادارو تباهي او په تېره تېره بيا د فرقو په نوم قتل و غارت په فلک باندې ژور اثر غورزولے دے.

زۀ که دا اووايم چې د فلک ددغه اخريني دور په شاعرۍ باندې يو قسم ته د مايوسۍ . حُزن و ملال او د درد و غم يو څادر خور دے نو بې ځايه به نۀوي.

اخر فلک هم يو انسان دے . يو دردمند او حساس انسان. دۀ ددغه دور د خرابيو اظهار ډېر په تفصيل سره کړے دے.

په اوسني حالاتو مشتمل يو نظم ,, يره ،، ( خوف ) د فلک يو نمائنده نظم دے چې دۀ په کښې د موجوده دور په هغو دانشورانو او عالمانو سخت تکونه کړي دي څوک چې د حق و باطل تر مېنځ فرق نۀ شي کولے . بيا هم فلک د اميد لمن له لاسه نۀ پرېږدي . او وائي

دا خپل تصوير صحيح کول غواړي
لږ خپل ياران داده کول غواړي

فلک د عدم تشدد سخت پېروکار دے .او خائے په خائے په خپل کلام کښې د دغې پرچار هم کوي .دے د ملي يووالي ، مذهبي روا دارۍ او د امن و امان سره ژوند ته ترجيح ورکوي .او هم دا خواهش لري چې هر قسم تعصبات ، تربګنۍ او دشمنۍ په مينه او محبت بدل شي.

فلک يو بيباکه او حق ګو شاعر دے .د خپلو سپېڅلو او عظيمو خيالاتو په اظهار کښې د هيچا نه نهٔ وېرېږي .او خائے په خائے د منصور حلاج حوالې ورکوي چا چې په تخته دار هم د حق و صداقت اواز پرې نهٔ خلو .هم دغه شان حضرت امام حسين عليه السلام ډېر په جرات او ترتوب خپل شهادت قبول کړلو خو د باطل قوتونو په وړاندې ئې خپل سر تيټ نهٔ کړو.

کهٔ زه پوره پرې پوهـ شوے يم نو معلومېږي چې د فلک د شاعرۍ نرمه لهجه په پښتو کښې د اشرف مفتون اثر دے . خنه قومي خيالاتو باندې ئې د اجمل خټک رنګ خور دے .او په خنه شعرونو کښې ئې د غني خان د شاعرۍ عکس موجود دے.

بل خوا دے د اردو مشهور شاعر فيض احمد فيض نه هم متاثره ښکاري .او د عدم نه هم .خو دا ټول اثرات بالکل غير محسوس دي .څو پورې چې د شاعرۍ تعلق دے هغه د فلک ناز بنګش خپله انفرادي شاعري ده.

پکار خو دا وه چې تر ۱۹۹۸، پورې د فلک د شاعرۍ کم از کم یوه شعري مجموعه شائع شوې وے خو د خپلو فوځي فرائضو له لاسه دۀ ته دغه فرصت په لاس ورنغلو. خو اوس هم څۀ تللي نۀ دي ... دیر آید ، درست آید ،، زۀ دۀ په دې مجموعه د خپلې خوشحالۍ اظهار په لفظونو کښې نۀ شم کولے. زمونږ ملک و قوم ته او بیا خاص پښتنو ته دۀ د شاعرۍ سخت ضرورت دے. دے د مثبتو اقدارو شاعر دے که یو خوا دے د اعلیٰ درجې روماني شاعري ورانده کوي او د خپلو ذاتي جذباتو او احساساتو اظهار کوي نو بل خوا دے د خپلې علاقې. د خپل ملک و قوم او په خاص ډول د خپل عصر صحیح ترجماني کوي.

د خپلې کم عمرۍ باوجود فلک د خوانانو دپاره یو راه نما او مُصلح هم دے. او زۀ دا هیله لرم چې زمونږ د نن دور زلمي او پیغلې به د بنگش د مثبتو جذباتو نه مثبت اثرات قبول کړي. او د خپل ژوند اصلاح به اوکړي.

دا مجموعه په پښتو جدیده شاعرۍ کښې یوه قابل قدر اضافه ده. او زۀ یقین لرم چې زمونږ تبصره نگاران او نقادان به فلک ناز بنگش ته د نوي نسل د یو نمائنده شاعر درجه ورکولو کښې هیڅ مشکل محسوس نۀ کړي.

زهٔ د خپله اړخه فلک ته ددې مجموعې په شائع کولو امبارکي ورکوم ۔ او دا هیله لرم چې دے به ډېر زر خپل نور کلام هم راجمع او شائع کړي۔ او دا سلسله به جاري وي۔

په درناوي

ډاکټر خالد خان
Ph.D اردو (سندھ) Ph.D (لسانیات) لندن
سابق پرنسپل گورنمنټ پوسټ گریجوېټ کالج مردان
۳۱ اګست ۲۰۰۸ء

٭

ستا پــه رحــم او کــرم پــروت
يم پــه هجر کښې بېدم پروت

خکــه زړهٔ زمــا چــاوْد نــهٔ شــو
پــرې ارمــان وو د صنم پــروت

حوصلې مــې چــې ســرې شوې
وو منــزل پــه يــو قــدم پــروت

دا د ســتا د يــاد ډيــوې دي
چې پــه سترګو مې وي نم پروت

شــپه مــې هــسې پــه نا تــار وي
هــر ســحر وي نــوے غــم پــروت

Pukhto.Net

دغـــه اوښـــکې د بلبـــل دي
چـې پـــه ګلـــو وي شـبنم پـروت

زهٔ پـــه تـــا شـــعرونه وایـــم
چې په خوب وي ټول عالم پروت

نبته :- ۱۹۷۸ء

***

Pukhto.Net

*

که د زړونو په درمان نه پوهېدله
لبوني وه په خپل خان نه پوهېدله

چې زما زړه ئې تر پښو لاندې کولو
دا نادانه په تاوان نه پوهېدله

دا د حُسن مملکت یو شهزادګي وه
خو د عشق په امتحان نه پوهېدله

چې ئې سترګې تورولې په نازونو
دا زما په لوند ګرېوان نه پوهېدله

څومره ناز وو د بلبلې په بهار
ناخبره په خزان نه پوهېدله

نن رسوا شوله زما ماشومه مینه
په دستور چې د جهان نه پوهېدله

نېټه ۱۹۷۸،

Pukhto-Net

٭

دا ناسازه طبیعت مې راشه ساز کړه
رقیبانو ته څه جوړ نوې جواز کړه

کله وائي چې څوک څوک کله برباد شي
دا ښېرې تولې په لوري د غماز کړه

زړه د کاڼي دې ورکړې خدایه پاکه
د ناترسې دغه زړه لږ شان ګداز کړه

زه دې څو مره په جفا کوم نازونه
کله کله خو زما په وفا ناز کړه

سـود مـې نـهٔ شـي پـه پیکـه ملاقـاتونو
مـا د خـوب غـونـډې د خـان سـره همـراز کـړه

یو لذیذ غونډې تریخوالے دے په ژوند کښې
یـو خـوږه غـونـډې جذبـه ده چـې اواز کـړه

عـشقه ستـا مقـام تـه څـوک شـي رسـېدلے
بـدنامي دې راتـه څـهٔ رنګـه اعـزاز کـړه

شـاهینان دې پـټ پـه خـالو کـښې فلکـه
تېوسـان ښکـه خوېونـه د شـهباز کـړه

نبتهه :- ۱۹۸۰ء

Pukhto.Net

❋

راځئ په زړونو کښې يادګار جوړ کړو
د خپلې مينې يـو مينـار جـوړ کـړو

د محبــت نــوې تــاريخ وليکــو
خان ته يو ښکلے غونډې يار جوړ کړو

د نفرتونــو بــه تــوبــه اوباســو
خلـوص او مينــه بــه شــعار جــوړ کـړو

خنــدا بــه اوشــېندو د ګلــو پــه شــان
د خپلـو اوښکو نــه بــه هــار جــوړ کـړو

تـهٔ خـو منـين وې څـهٔ شـاعر خـو نـهٔ وې
فلکــه څنګــه دې اشــعار جــوړ کــړو

ښتـه ۲۰۰۲ء

Pukhto.Net

# د کالج زمانه

بې پرواه زما خواني وه چې مې ته نه وې ليدلې
وار خطا زما خواني شوه چې مې کله اوليدلې

چې زما مخې ته راغلې ياره څنګه وار خطا شوې
څه په خوله دې ونيلے نه شوخو په سترګو کښې ګويا شوې
نه اقرار نه دې انکار وو شش و پنج کښې مبتلا شوې
ستا په سترګو کښې د مينې ياره شمعې بليدلې
وار خطا زما خواني شوه چې مې کله اوليدلې

بيا په هغه شپه اے ياره ستا فکرونه راسره شول
زړه نرے نرے په درد شو ستورې زما په ننداره شول
په يوه شپه کښې اے ياره ستا فکرونه راښکاره شول
د خوانۍ خوبونه لاړل شپې مې ويښې تيرېدلې
وار خطا زما خواني شوه چې مې کله اوليدلې

Pukhto.Net

چې اقـرار د خپلـې مینـې مـا او تـا نـۀ شـو کـولے
ګنـې بـاغ د خپلـې مینـې مـا او تـا شـو جـوړولے
خپلو زړونو په خزان کښې مونږ بهار شو راوستلے
خـو زۀ تانـه یریدمـه تـۀ زمـا نـه یریـدلې
وار خطـا زمـا ځـواني شـوه چې مې کلـه ولیـدلې

زماژوند شو یاره ښکلے چې دې درد کښې مبتلا شوم
خوند مې هله ځواني راوړو چې زۀ سر په لېونتیا شوم
نوم مې هله مقدس شو چې دې مینه کښې رسوا شوم
تـوره شپه زمـا رڼا شوه چې یـادونو کـښې راتللې
وار خطـا زمـا ځـواني شـوه چې مـې کلـه اولیـدلې

کـه دې مینـه نـه وے یـاره پـه چـهرلـو بـه خفـه وے
پـه ځرګنـده د خپـل نـوم پـه اخـستلو بـه خفـه وے
او کـه دا نـۀ وه د لارې پـه نیولـو بـه خفـه وے
دا اقـرار وو چې دې سـترګې زمـا پـه لـورې غړولې
وار خطـا زمـا ځـواني شـوه چې مـې کلـه اولیـدلې

ښکلې ښکلې ورځې شپې وې ښکلې ښکلې زمانې وې
چې زمـا د سـترګو تنده سـتا د سـترګو پیمـانې وې
څۀ خبـر وو چې پـه مینـځ کښې دستورونو زولنې وې

څهٔ وختونو زهٔ مجبور کړم څهٔ نې تهٔ مجبوره کړلې
وار خطا زما خواني شوه چې مې کله اولیدلې

ښکلې مینه وه روانه رقیبانو راته پام شو
چې مې مینه عبادت کړه مُلایانو راته پام شو
د خوانانو . بوډاګانو . ماشومانو راته پام شو
زما دغه مجبوري وه یاره تهٔ رسوا کېدلې
وار خطا زما خواني شوه چې مې کله اولیدلې

نن دې بیا زما په زړهٔ کښې د یادونو انتها ده
تول غمونه په لړزه دي عجیبه د شپې فضا ده
ستا ابادهٔ زندګي شه دا زما د زړهٔ دعا ده
چې تهٔ څومره شوې رایاده هومره اوښکې وریدلې
وار خطا زما خواني شوه چې مې کله اولیدلې

نبتهه . ۱۹۷۹ء

*

خبـر نـې بيـا وائـي ايـوان د زمـانې بـدلېږي
مضمون به زور وي خو عنوان د افسانې بدلېږي

زۀ نۀ پوهېږمه په دې خو بـه تـان سـين پـوهېږي
يـوه خـو نـۀ ده هـره ورځ نـې ترانـې بـدلېږي

طمع بـه څـۀ ترې د حـالاتـو د بـدلون لرمـه
چې په کوم کلي کښې تندي او استانې بدلېږي

مونږ ته جوړ شوي دا قانون او دا آئين او حدود
د چـا د پـاره دا قـانون او پيمـانې بـدلېږي

پرېږدۍ چې ښۀ زاباندې اوکړي تنقيدونه دنيا
د وخـت سـره د تنقيـدونو بـه معنـې بـدلېږي

ناصح رخصت شو نوساقي اوبستو خپل پرونې
ددې نـه پـس خـو بـه مزاج د مېخـانې بـدلېږي

نبته ۱۹۹۲ء

*

خبــر نــې بيــا وائــي ايــوان د زمــانې بــدليږي
مضمون به زوږ وي خو عنوان د افسانې بدليږي

زۀ نۀ پوهېږمه په دې خو به تـان سين پـوهېږي
يـوه خـو نـۀ ده هـره ورخ نـې ترانـې بـدليږي

طمع بـه څـۀ تـرې د حـالاتـو د بـدلون لرمـه
چې په كوم كلي كښې تندي او استانې بدليږي

مونږ ته جوړ شوي دا قـانون او دا آئـين او حدود
د چـا د پـاره دا قـانون او پيمـانې بـدليږي

پرېږدئ چې ښۀ زاباندې اوکړي تنقيدونه دنيا
د وخـت سـره د تنقيـدونو بـه معنـې بـدليږي

ناصح رخصت شو نوساقي او ښتو خپل پرونے
ددې نـه پـس خـو بـه مزاج د مېخانې بدليږي

نبتيه ۱۹۹۲ء

❋

چـې بیگـا د پتنگـانو پـرې غوبـل وو
هغـه شـمع تـر سـحره پـاتې نـهٔ شـوه

څـوک بـه څـهٔ وائـي زمـا او د یـار مینـخ کـښې
اوس پـه میـنـخ کـښې څـهٔ خبـره پـاتې نـهٔ شـوه

هغـه زړهٔ چـې همېـشه پـه وینـو سـور وو
یـو قطـره پکـښې خیـگـره پـاتې نـهٔ شـوه

پـه دې ښار کـښې پـه ریښتیا قحط الرجال د ے
یـو هستي هـم پکـښې غـوره پـاتې نـهٔ شـوه

کـه بـدل نـهٔ وې خـو دومـره خـو ریښتیا دي
دلـبـري در کـښې دلـبـره پـاتې نـهٔ شـوه

مـا وې مـنـهٔ خـنهٔ د هنگـو مـاز دیگر ے د ے
خـو هغـه تـر مـاز دیگره پـاتې نـهٔ شـوه

نښته ۱۹۹۳ء

Pukhto.Net

❋

تــهٔ دې ستـم کــوه ضــرور خــېــر دے
زخــم د زړهٔ کــه شــي ناســور خـېـر دے

زهٔ خـــو بـــه هـــر چــا ســره مينـــه کـــوم
کــه هــر ســړے مـې د ے تربـور خـېـر دے

رنــدانو ښـهٔ نــهٔ وي نـــشه د غفلـــت
لــږه مــستي او لــږ ســرور خـېـــر دے

نــهٔ دې ده ســترګو بــې بـاکي هغـــسې
نـهٔ دې پـه مـخ کـښې هغـه نـور خـېـر دے

Pukhto.Net

زمـــا پـــه خـــاوره کـــښې وفـــا او مینـــه
جفـــا د دې خلقـــو دســـتور خبـــر دے

وســـله پـــه لاس کـــښې د رقیـــب ســـره ده
امـــن زمـــونږ د ژونـــد منـــشور خبـــر دے

فکـــر زمـــا د قتلیـــدلو مـــهٔ کـــړه
شي به ماحول لږ غوندې سُور خبر دے

نبتهٔ :- ۱۹۸۳ء

***

Pukhto.Net

❋

دغــه درد مــې پــه زړګــي کــښې اول نــهٔ وو
خوږیــدلو بــه خــو داســې جــل بــل نــهٔ وو

ســتا د زلفــو پــېچ او خــم دا بـرکـت دے
ګنــې ژونــد کــښې مــې دا نظــم او غــزل نــهٔ وو

کـه خبـر وے چې خدائے نـهٔ نې تش بـټ نې
مـا بـه سـر مـات کـړے سـتا پـه دُرشـل نـهٔ وو

اخــر تــول مفــاد پرســته مــشران وو
ورســره د مــسـائلو څــهٔ حــل نــهٔ وو

مـا د خپلـو وینـو رنـګ پکـښې شـامل کـړو
ګنــې ســتا د شــونډو رنــګ مکمــل نــهٔ وو

د هغــهٔ پــه شخــصیت کــښې څــهٔ تــاثیر وو
ګنــې هـسې خــو فلـک هــم پاګــل نــهٔ وو

نـښتـه ۱۹۸۹ء

Pukhto.Net

*

زړه نه صبرېږي خوږېدو نه بغېر
لکه ماشوم چې د شودو نه بغېر

زه او د منيو جداني داسې ده
لکه هنګو وي د چېنو نه بغېر

خلقو ترې خوله غوښته د سر په بدل
ما ته نې راکړه د غوښتو نه بغېر

بغېر د هجر نه ارمان د وصل
لکه جنت چې د مرېدو نه بغېر

PukhtoNet

ښـکلو تـه نشته ضـرورت کـه زمـا
زۀ هـم ژوند ے یـم د هغـو نـه بغیـر

دغـه زمـا او د غمـاز مسئلې
کلـه حـل کیـږي د جرګـو نـه بغیـر

اخـر بـه خـان کـړمـه عـادت فلکـه
ستـا د محفـل د رنګینـو نـه بغیـر

نبته ۔ ۱۹۹۵ء

***

Pukhto.Net

*

د هغو سترګو اثرات دي دا خوبونه د زړه
د هغو شونډو کمالات دي پرهرونه د زړه

ته په کښې څه ګورې نقصونه خوږ طبيبه زما
لکه په شان د سومنات دي کنډرونه د زړه

ژوندون خو هسې زړه چاؤدون دے خود غرضه خلقو
د چا د مينې کرامات دي ښه وختونه د زړه

د محبت سنګ مرمرونه جوړ کړي وو ما
خو تش د شګو عمارات دي محلونه د زړه

ستا د بېلتون خبره نه وه معمولي خبره
د زړه رګونه مې تول مات چپ دي نبضونه د زړه

نښته ۱۹۹۵ء

Pukhto.Net

# اعتراف

زمـا زړګيـه پـه تـا څـهٔ شوي دي
څـهٔ لـه بې وجهـې هـسې خـان کـړوي
خـان تـه دې زخـم نـه ناسـور جـوړ کـړو
وړو خبـرو نـه اسـمان جـوړوي

زمـا زړګيـه تـهٔ پـه دې خفـا نـې
چې پـه دې خلقـو کـښې وفـا نـشته
لږ پـه دې خپـل ګرېوان کـښې هـم اوګوره
تـا کـښې هـم صـبر او رضـا نـشته

تـهٔ هـم د نـورو خـود غرضـو پـه شان
د يـار پـه مينـه کـښې غـرض ګـوري
تـهٔ هـم د نـورو خوبـولـو غونـدې
همېش پـه ويـښـه بانـدې خـوب ګـوري

ددې دنيا لاړې کړې دې منم
خو اے زړګيه ته هم سم نه ئې
د خود غرضو منافقو منځ کښې
خپله زړګيه ته هم ګرم نه ئې

اے د پردو نه ګيله مند زړګيه
اووايه ته ئې د چا خپل څومره
د زمانې د بدليدو ناقده
خبر ئې ته شولې بدل څومره

د عاشقانو معاشي حېثيت
د دوئي د مينې اهميت ختم کړو
د بې وفاؤ دنياوي حېثيت
د وفا دارو فضيلت ختم کړو

د خيګر وينې مې تپ تپ پريوتې
زما زړګے توتې توتې زړګيه
شو د غمونو غلبه بې حده
په ژوند کښې راغلې زلزلې زړګيه

نېټه ۱۹۹۸ء

# خواهش

(الف)

پرهېږدئ چې شونډو ته ئې جام اووايم
پرهېږدئ چې زلفو ته ئې دام اووايم
سترګو نشه ئې د شرابو غونډې
سره اننګي ئې د ګلابو غونډې
ملا ئې نرۍ لکه وېښتو غونډې
بدن ئې سپين لکه اوبو غونډې
زما زړګے لکه خيبر غونډې
د يار بانړه لکه لښکر غونډې
وي رقيبان لکه ازغنو په شان
نصيحت ګرې لکه ستنو په شان
خلق ئې مخ ته صبا ولې وائي
خلق دې شپې ته ليلىٰ ولې وائي
ګڼي کشمير لکه جنت غونډې
بولي لاهور لکه عظمت غونډې

Pukhto.Net

دا کراچۍ لکه د ناوې په شان
اسلام آباد لکه د فخر نشان
خلق خو هر څۀ ته بل څۀ وائي
خکه خو ماته هم دا زړۀ څۀ اووائي
په پښتو ژبه کښې صفا اووایه
ښکلي وطن ته پښتونخوا اووایه

(ب)

اے د غفلت په خوب اودۀ پښتونه
د خان دشمنه اے ساده پښتونه
چا په محنت کړه زمانه بدله
او چا په عقل کړه دنیا بدله
د بمبۍ نه ممبۍ جوړه شوه
د منتگمرۍ نه ساهیوال جوړ شو
دا لائل پور فیصل آباد کېدے شي
خو پښتونخواه ورته جنجال جوړ شو
په ما شیرینې او ښائستې پښتونخوا
زما مظلومې بې نامې پښتونخواه
ستا د چینو او د سیندونو قربان
دا ستا د دنګو غرونو قربان

زمونږه ژوند په تا قربان وطنه
دا ستا خدمت زمونږ ایمان وطنه
ستا په ظاهره عاشقان ډېر دي
دا ستا د نوم منافقان ډېر دي
واړه نوموونه د دنیا پښتونخواه
دا ستا په نوم شه صدقه پښتونخواه

(ج)

څومره خراب دے ستا نصیب پښتونخواه
جوړ دے پښتون درته رقیب پښتونخواه
دا ستا په نوم سیاستونه کېږي
دا ستا په نوم د چا مذهب چلېږي
هسې فضولې د پردو نه ګیلې
زمونږ په خپله دې مرې شوې جذبې
ګني نو نن یو فیصله په کار ده
نن یوه کلکه اراده په کار ده
وطنه تاله یو نامه په کار ده
دا ستا نامه په مونږه پور وطنه
دا ستا مقام لکه د مور وطنه
که څوک د چا شوندو ته جام وانې

کــه څــوک د چــا زلفــو تــه دام وائـــي
کــه د چـــا ســترګې شـــرابي يـــاد ېږي
کـــه اننګـــي نـــې ګلابـــي يـــاد ېږي
مـــونږ هـــم دا ســـتا پــه نــوم اقــرار کـــوو
مـــونږ د نـــور هـــر څــهٔ نــه انکــار کـــوو
چـــې وي تــر څــو دغــه دنيــا پــښتونخواه
تــل بــه ژونـدۍ وي ســتا نامــه پــښتونخواه

Pukhto.Net

# ډیپریشن (DEPRESSION)

نـۀ تـذکره چـا د دلـدار کـړې ده
نـۀ چـا وعـده د انتظـار کـړې ده

نۀ خـو د چـا نـه یم ذاتـي ګیلـه منـد
نـۀ د چـا زلفـو زولنـو کـښې پابنـد

نۀ مـې ظـاهره غلـط کـار کـړے دے
نۀ مې جائز کار نه انکار کړے دے

نـۀ خـو د زمکـو څـۀ جنجـال لـرم
نـۀ د مالـدارو غونـدې مـال لـرم

نـو بیـا دا دومـره پریـشان ولـې یـم
دومره خدایه کښې زۀ په خان ولې یم

نبتهه - ۱۹۹۴ء

Pukhto.Net

# لا علاج

چې تباه ئې کړو سماج د پښتنو
څومره ګرم دے مزاج د پښتنو

پښتانهٔ که بې پښتو کارونه پرېږدي
ټول جهان به وي محتاج د پښتنو

څهٔ مو خيال دے هغه خلق پښتانهٔ دي
چې ئې پرېښے هر رواج د پښتنو

چې چارهٔ ئې کړه د زور په مرۍ تېره
بس هم دغه وو معراج د پښتنو

د تاريخ يو څو ضعيفو پرېړو نه
څو به غواړمه خراج د پښتنو

د مخلصه مشرانو ضرورت دے
فلک نشته بل علاج د پښتنو

نبته : ۱۹۹۷ء

Pukhto.Net

*

چې په سينه کښې مې اور بل نۀ ؤ
څکه څۀ خوند مې د غزل نۀ ؤ

دنيا کښې هېڅ نۀ ؤ کمې د ښکلو
خو د يو ښکلي غوندې بل نۀ ؤ

چې دا ستا غم نې ښۀ ژړلې نۀ وي
په ښار کښې داسې يو محفل نۀ ؤ

که زمانه ټوله بدله نۀ وه
زما جانان به هم بدل نۀ ؤ

Pukhto.Net

که مو په وخت باندې علاج کړے وے
د زړۀ عذاب به مسلسل نۀ ؤ

که زمونږ وینې بهېدلې نۀ وے
تصویر د حُسن مکمل نۀ ؤ

ما خو ساده غوندې جونګړه غوښته
زما په ذهن کښې محل نۀ ؤ

ما به ترومبلے وے دا ستا زلفو کښې
خو په خولۀ کښې مې یو ګل نۀ ؤ

په هر یو کور کښې دانشور اوسېږي
خو په کردار د چا عمل نۀ ؤ

ښۀ شوه چې تۀ شولې جدا په خپله
فلکه ما سره نې حل نۀ ؤ

نبتیه - ۱۹۹۹ء

Pukhto.Net

❋

کلــه د خــان کلــه د بــل غمونــه
پــه مــا روان دي مسلـــسل غمونــه

زمــا د ســترګو اوښــکي نــهٔ اوچـېږي
يــو تللــې نــهٔ وي راشــي ســل غمونــه

دا پــه محفــل کــښي غمــزده او تنهــا
پــه تنهــايي کــښي د محفــل غمونــه

چــې مــې غمونــه پــه چانــهٔ وو پېــرزو
ماتــه هــم هغــو راکــول غمونــه

Pukhto.Net

غـم بـه يـوازې چرتـه پـاتې نـهٔ شـې
چې وي ژونـدون نـو وي بـه تـل غمونـه

چې دا سـتا مينـه مـې ملګـرې شـوله
اوس څــهٔ کومــه د منــزل غمونــه

مـا او د يـار پـه مينـخ کښې فـرق دومره ؤ
مـا بـه پـه شـونډو ښـکلول غمونـه

مـونږ چې وارهٔ وو پـه څـهٔ نـهٔ پوهـېدو
مـونږ نـه بـه لـرې تـښتېدل غمونـه

نښته: ۲۰۰۵ء

Pukhto.Net

٭

زړ پکـــار دي څـــۀ چلونـــه تدبيرونـــه
گڼـــي لـــس کـــروړه څـــو تنـــو اوخوړونـــه

هر سـړے غـوارِي چې بل دي فرشته شي
هيڅوک نۀ پرهېږدي خپل خوشي عادتونه

هر يو گېر د مـال او زرو پـه هـوس کېښي
هيڅوک نۀ گڼي چې خاؤرو لـه بـه خونـه

يُـو پراتـۀ د جهالـت تـورو تيـارو کـښې
مـونږ جوړ کـړي پـه دنيـا کـښې فـسادونه

مـونږه تـول د قيامـت پـه انتظـار يُـو
زمـــونږ لاســـو نـــه وتلـــي دي وختونـــه

نبتہ ۱۹۹۴ء

Pukhto.Net

*

ستـــا د حُـــسن طلـــب دغـــسې شـــدید ؤ
چې نن ښار کښې هر یو ښکلے زما یار دے

اشـنا پر بـړده محبـت کـښې سـیالي نـۀ وي
چـا جـوړ کـړے د جـذباتو نـه قطـار دے

اوس هغـه رنګـې مـاحول نـۀ پیـدا کـېږي
ګنـي کـړے چـا د ښکلـو نـه انکـار دے

پـه دنیـا کـښې بـه د هـر زخـم عـلاج وي
خـو دې خلـې مـې خـوړلے سـم ګـذار دے

د هغـې شـونډې انـارو غونـډې سـرې دي
زړۀ ګرم نۀ دے پسې شوے چې بیمار دے

خلقـو هسې پـه نقصان کـښې عمـر تېـر شـو
کـه نـه مینـه خـو د ګټـې کاروبـار دے

نبتـه ۱۹۹۷ء

✵

زما زړګي په عشق کښې ورک ښۀ دے
ښۀ دے ژوندون د غمه ډک ښۀ دے

ما خود مینې چاته نۀ وو ونیلي
خود دنیا رابانديې شک ښۀ دے

حاسده ستا وربانديې څۀ کمبري
غشے زما په سینه لک ښۀ دے

د خود غرضه بوالهوس مشر نه
یو ښۀ هوښیار غونديې هلک ښۀ دے

جانانه تا د خلقو اومنلو
ګنې په زړۀ بانديې فلک ښۀ دے

نښته - ۲۰۰۱ء

PukhtoNet

*

لاړې غنچـــې د نوبهــــار لاړې
ورېــــې اوښـکې بــې اختيــار لاړې

د زړهٔ نــــازکې ارزوګــــانې زمـــا
لکــه ګــډې پــه يــوه تــار لاړې

دا جــدائي خــو مــستقله شــوله
ورخــې اشــنا د انتظــار لاړې

د زړهٔ قــــراره ســــتا د تللــو ســره
تــولې مــزې زمــونږ د ښــار لاړې

نبته :- ۱۹۹۲ء

Pukhto.Net

❋

دې تیارو نه مه یریږه اې یارانو
دا تیارې خو دي سازش د څو کسانو

مونږ به هم وسه خو د امن طلبګار یُو
مونږه غواړو د هر عزت د انسانانو

دا د خلقو د سرو سپینو محلونه
مستقبل کښې به مسکن وي د پیریانو

بیا په دې ښار کښې د ښکلو اجتماع ده
بیا په داؤ دے محبت د عاشقانو

نبته - ۱۹۹۳ء

Pukhto.Net

# انجام

دا په هر څه کښې بحثونه
په هر څه کښې اختلاف

نه د خلقو زه قلار شوم
نه دې خلقو کړمه معاف

نه په نيت کښې د چا خېر شته
نه زړګے د چا شفاف

اے زړګيه څه حاصل شو
د سرو سپينو د طواف

که حاصل شو اے زړګيه
خو د خاورو يو لحاف

نبته - ۲۰۰۲ء

Pukhto.Net

# ساقي ته

ولې سوځ نۀ کوو په څۀ پاتې شو
قافلې لاړې مونږ اودۀ پاتې شو

څۀ شو د عدم تشدد پېروکار
ولې په خپلو وينو سرۀ پاتې شو
د خوشحال خان او باچا خان بچو کښې
بس دا يو څو سرې خوارۀ پاتې شو

د زړګي سره او دلبره ساقي
په زړۀ درد مند يمه يو جام راکړه
په خپلو مستو خمارو سترګو کښې
يو څو لمحې تۀ د ارام راکړه

PukhtoNet

آ د چینو او د سیندونو وطن
هغه د دنګو دنګو غرونو وطن
د ښاپېرو او د خوبونو وطن
د ښکلو خلقو د رنګونو وطن
جنتي زمکې نه دوزخ جوړ شو
څنګه تباه شو د ګلونو وطن

ته خو د هر څه نه اګاه ئې ساقي
ته خو د هر څه نه خبر ئې کنه
ښکلے وطن ئې کړو تباه و برباد
وائي پېښور خو پېښور دے کنه

زما وطن د نعمتونو نه ډک
دا د سکارو او د ګېسونو نه ډک
د زمردو د لعلونو نه ډک
د خنګلونو او سیندونو نه ډک
خو دا د هر څه موجودګۍ باوجود
زمونږ ژوندون دے د غمونو نه ډک

Pukhto.Net

دا حقیقـــت د ے دا رښـــتیا دي ســـاقي
ددې حـــالاتـــو ذمـــه وار خپلـــه يُـــو
په يـــو او بـــل بانـــدې الـــزام لګـــوؤ
خـــو روان شـــوي پـــه دې لار خپلـــه يُـــو

نېټه :- جنوري ۲۰۰۸ء

Pukhto.Net

# بربادي

نـه د يـارانو نـه ګيلـې لرمـه
نـه د خپـل خـان نـه مطمـئن يمـه زه

نـه مېخـانې شـته او نـه ټنـګ د ربـاب
نـه نـن صـبا پـه چـا مئـين يمـه زه

نـو دا زړګـے دومـره درزيـږي پـه څـه
اخـر پـه څـه دومـره غمجـن يمـه زه

پـه دې ازاد او جمهـوري دور کـښې
زه خـو سـوزېږمه د ظلـم اور کـښې

✸

کلـه د يـو کلـه د بـل د پـاره
مـونږه پـه خپلـو کـښې جنګونـه کـوو

کلـه کابـل کلـه کـشمير کـښې جهـاد
پـه خپـل کـردار څـومره نازونـه کـوو

پښتون به ولې زړېدے ملګرو
خو مونږ اکثر پردي غمونه کوو

پردي غمونه پرېښودل دي پکار
لږ د خپل خان فکر کول دي پکار

✵

زما همزولو د ځوانئ يارانو
تاسو ته ياد دے دغه ښکلے وطن

وۀ په دې زمکه د جنت نمونه
دا وۀ په ټولو کښې ښاغلے وطن

زمونږ د کلي نه تر کُرمې پورې
ټول په سر: وينو کښې لړلے وطن

ددې حالاتو ذمه وار څوک دي
زمونږ په مېنځ کښې دا اغيار څوک دي

نبته اپرېل ۲۰۰۸ء

Pukhto.Net

# د هنګو مازیګرے

بنۀ وخت ددې وختونو د هنګو مازیګرے دے
زړۀ سر . زمونږ د زړونو د هنګو مازیګرے دے

رنګین چې په رنګونو د هنګو مازیګرے دے
لېلې د بهارونو د هنګو مازیګرے دے

بدنام په شرابونو د هنګو مازیګرے دے
خمار په خمارونو د هنګو مازیګرے دے

خوانان او ماشومان او بوډاګان زمونږ د کلي
اباد په محفلونو د هنګو مازیګرے دے

Pukhto.Net

شنې پُولې چينې يخې او شـودې د ميرولـې
مشـال د جنتونـو د هنګـو مـازيګرے دے

د زرکـو اوازونــه ، ترانــې د تاروګــانو
په مېنځ کښې د شنوغرونودهنګو مازيګرے دے

بس حسن و عاشقي ده او مزې دي او مستي ده
خـواني ده په موجونو د هنګـو مـازيګرے دے

نبته : ۱۹۸۲ء

Pukhto.Net

# یره (خوف)

ما وئیل یارانو نه ګیلې نه کوم
ما وئیل چې دا خو ډېر مجبور خلق دي

د تشدد په دې سنګین دور کښې
ما وئیل چې دا خو د شعور خلق دي

د تعصب او د نفرت مخالف
دا حق پرست او د جمهور خلق دي

خو په فطرت کښې د دولت غُلامان
دا دي هم هغه اجرتي قاتلان

✵

څه کړو په داسې خوف زده دانشور
چې ترخو زهرو ته ګبین وائي

څه به کړې داسې د تاریخ استاذان
چې تکو تورو ته تک سپین وائي

بـــې ګـنــاه ویـنــې د اولـــس بهـېـږي
دا ظـالـمـــان ورتـــه خپـــل دیـــن وائـــي

مـرګ خـو یـو ورځ وي خـو یریـږي یـاران
پـــه دې خبـــره نـــهٔ پـــوهېږي یـــاران

✵

زمـونـږ د شـکل نـــه پیریـــان یریـږي
داســې تــصویر زمــونږ د مــخ جــوړ دے

پـه تـور لحد کښې ښخیدو نه مخکښې
پـــه ژوندانـهٔ راتـــه بـــرزخ جـــوړ دے

د قیامــت حـســاب بـــه ورسـتو کـــوو
ولـــې دا ژونـــد راتـــه دوزخ جـــوړ دے

دا خپـــل تـــصویر صـحیح کـــول غـــواړي
لـــږ خپـــل یـــاران داده کـــول غـــواړي

نبتهه - اپریل ۲۰۰۸ء

٭

هـــیڅ پتـــه نـــهٔ لګـــي د ژونـــد زړګیـــه
دومـــره پـــه څـــهٔ نـــې فکرمنـــد زړګیـــه

ورځـــې دې ولـــې پـــه خفګـــان تیرېـږي
ولـــې تـــرې نـــهٔ اخلـــې خونـــد زړګیـــه

مـــونږ د هیچـــا غلـــط رواج نـــهٔ منـــو
مـــونږ د هیچـــا نـــهٔ یُـــو پابنـــد زړګیـــه

سېلاب د سترګو مـې تـر خـولې واوښتو
اوس ورتـــه نـــهٔ شـــو تـــړے بنـــد زړګیـــه

د عاشـــقانو د شکـــست بـــاوجود
د عـــشق پـــرچم بـــه وي بلنـــد زړګیـــه

ولـــې دې هـــر غـــشے پـــه خـــان خوړلـــو
اوس چـــې اخلـــې نـــهٔ پیونـــد زړګیـــه

نښته ۰ ١٩٩٩ء

Pukhto.Net

*

ستا د يادونو سلسلې دي اشنا
څومره رنګينې ورځې شپې دي اشنا

څنګه د مينې نه قلار شمه زۀ
چې د خوانۍ وينې تاوده دي اشنا

په چا وي ګرانې د دنيا خبرې
په ما خو ګرانې ستا قيصې دي اشنا

دا ستا غمونه به وانخلي رانه
ډېرې تکړه که زمانې دي اشنا

Pukhto.Net

دا سـتا يادونـه راتـه وخليـږي
کـه ژمـي شـپې د ږـرې سـرې دي اشـنا

دا ورانـې سـترګې د ارمـان هـديرې
دا سـپينې اوښـکې پـرې ډيـوې دي اشـنا

خـه چرتـه بيـا بـه درتـه اووايمـه
د جـدايي قـصې اوږدې دي اشـنا

چې سر و مال دواړه پـه تـا کـړم قربان
زمـا هـم داسـې ارادې دي اشـنا

نېټه :- ۱۹۸۰ء

Pukhto.Net

٭

الله دې اوکړي چې د ے ستا د زنې خال جوړ شي
که داسې اونشي د فلک به څۀ حال جوړ شي

تاتــه اســان دي د تنـــدي راټولــول جانانــه
ماتــه د زړۀ راټولـول ځــومره جنجـال جــوړ شــي

تۀ خبر نۀ ئې خو ستا هجر کښې خيالونه د ستا
غبږ کښې مې واخلي نو د هجر نه وصال جوړ شي

جانانــه مــا ســره د مياشــتو تــۀ وعــدې مــۀ کــوه
ستا انتظار کښې خو د ورځې نه هم کال جوړ شي

ريښتونے نيت خو دې ځوک اوکړي د منزل په طرف
انبار سرونه بــه ئــې پــه لار د استقبال جــوړ شــي

نښتهر - ۱۹۹۵ء

*

حاسدانو که ته ول کلي کښې بدنام کړم
خدايه شکر دے تا مور په هر انعام کړم

زۀ قائل په کښې د رنګ و نسل نۀ يم
زۀ د ټولو عاشقانو احترام کړم

خدائے دې تا ته هدايت اوکړي حاکمه
په پاؤنډونو او ډالرو دې نيلام کړم

په دې دور چې نامه د مينې اخلي
هغو خلقو ته په دوؤ لاسو سلام کړم

په دې خيال چې چرته ستا د کوځې نۀ وي
هر يو ښکلي ته په سترګو کښې پېغام کړم

نبتيه ـ ١٩٩٥ء

Pukhto.Net

*

چرته چې مينه او زخمي زړونه وي
ذکر د ستا قد و قامت خو به وي

د عشق ګناه کښې مې په دار خېژوي
ژوندون که لنډ وي خو اوچت خو به وي

د غم خبره د هر چا په خولې ده
ستا د ستم دومره شهرت خو به وي

چې په مصرعې پسې مصرعه وايمه
دومره اثر ستا د قربت خو به وي

که څوک نې نه وينې خو اودې مني
يو ورځ انصاف او قيامت خو به وي

نبتيه ١٩٩٥،

Pukhto.Net

*

بې د مرګـه نـې نـور نـشته علاجونـه
عجيبــــــه دي د دې دوز مرضـــــونه

خدايـه مينـه محبت پـه کښې پيدا کړې
ددې خلقــو زړهٔ نـه ورک کـړې نفرتونـه

چې نـې ماتـه ضـرورت بـې انـدازې وُ
يار پـه داسې وخت کښې واخستل لاسونه

ماتـه ښـکارې سـتا وجـود پـه خطـره کښې
محبتـه څـهٔ شـو سـتا پـالونکي زړونـه

پـه مـا څـهٔ تېـر شـو ليـدلي خـو دې وے لـږ
تـا خـو هجـر کښې پـوره کـړل خپـل خوبونـه

نبتهه ۱۹۹۵ء

PuKhto.Net

✵

که جانان مې جوړوي نه سپېلنے مې کړه د خان نه
د لوګي غوندې ورک بنهٔ يم جوړوم به څهٔ جهان نه

چې څهٔ چل درسره اوکړم اے زما غمګين مابنامه
نهٔ يو ګل شته په ماحول کښې نه ياران سوا د خان نه

وايـم زمـا د آرزوګــانو او خوبونـــو قاتـــل دا دے
راتـــه داســې معلـــومېږي د ظـــالم د اطمينـــان نـــه

خلقـو چـل ورتـه څـهٔ جـوړ کـړئ ګنـي دغـه مُلايـانو
هم ئې اوېستئ دنيا نه هم ئې خلاص کړئ د ايمان نه

دا زمـونږه مـستقبل خـو د پـرون پـه نـوم قربـان شـو
څئ چې بچ دا خپل بچي کړو د راتلونکي دې طوفان نه

اپريل ۱۹۹۵ء

*

اوس په کښې نشته د ژوندون هغه خوږې معاملې
چــې مېکــدې نــه د رنــدانو جنــازې اووتـــې

تا وئيل چې هغسې او دغسې به وي په ژوند کښې
نجــومي تــولې دې غلطــې انــدازې اووتـــې

کلـه د زلفـو بنـدي کلـه نـې پـه مينـې قربـان
کـه پـه دې نـه وي آرزوګـانې مـې پـه دې اووتـې

زړګيــه دا وه ددې ســترې انتظــار نتيجــه
خوبونــه ښـه چـې د حقونـو مـې لمبـې اووتـې

نبته - ١٩٩٩.

Pukhto.Net

*

چې مې د مينې افسانه جوړه شوه
اوس مې دښمنه زمانه جوړه شوه

اشنا دا ستا بې وفايي په سبب
اوس ناصحانو ته بهانه جوړه شوه

چې مې رقيب ته په خندا اوليدې
زما په سترګو توره شپه جوړه شوه

چې کوم زړګي کښې ياره ته اوسيدې
اوس د يادونو هديره جوړه شوه

اشنا زما په لبوتوب افرين
تاله يو ښکلې تماشه جوړه شوه

نبتيه ۱۹۸۰.

Pukhto Net

Pukhto Net

✻

يوه ورخ مجازي يار به دې خراب کړي
په مزه او په قلار به دې خراب کړي

دا لوظونه چې د ے اوکړي دهوکه نهٔ شي
دا د عمر انتظار به دې خراب کړي

خان به ورک کړي په خوږو خوږو خبرو
دا د ښکلو ښهٔ ګفتار به دې خراب کړي

تهٔ به وانې څوک خبر نهٔ دي ستم نه
داسې نهٔ ده ښهٔ په جار به دې خراب کړي

چې د سترګو په ښنانست نې دهوکه نهٔ شې
د تبـرو ښهـو قطـار بـه دې خـراب کـړي

ګـوره زړهٔ بانـدې بـاور د کـانې مـهٔ کـړه
دا د خپـل زړګي اعتبار به دې خراب کړي

هـسې هر وخت نـې تـهٔ مـهٔ چیـړه ناصـحه
د فلــک د زړهٔ ازار بـه دې خـراب کـړي

نېټه :- ۱۹۸۰ء

Pakhto.Net

✵

په سرو ګلونو کښې لړلي دا سپرلي مزه کا
د يار غمونه چې پرې بار وي عاشقي مزه کا

کـهٔ نـې کبـوتم پـه دام د تـورو زلفـو
چې د زلفو په ولونو وي پهانسي مزه کا

بې د مينې تاج و تخت مې په کار نهٔ دي
وي چې مينـه فقيري او ملنګـي مـزه کـا

زېب زينت د معشوقو په جفا خوند کړي
عاشـقانو تـه د عمـر بنـدګي مـزه کـا

دغـه ښـکلي پـه ښانـست مغـروزې اوسـه
دا چې څيرې ګرېوان ګرخي لېوني مزه کا

چـې زمـا د زړهٔ مـرهم نـه پېـدا کېږي
تـل مې سرهٔ سرهٔ پرهرونه په زړګي مزه کا

نښته ۱۹۷۹ء

Pukhto.Net

# درې شعرونه

چې هيڅوک ئې بې له تا په خيال کښې نۀ وي
بس هغه خلق د ستا په خيال کښې نۀ وي

دا خبره د منلو هرګز نۀ ده
چې مجنون به د ليلٰى په خيال کښې نۀ وي

هر سړے دے چې قارون جوړيدل غواړي
د قارون انجام د چا په خيال کښې نۀ وي

اپريل ۱۹۹۵ء

PukhtoNet

*

مونږ چې وهلې د وحدت چغه ده
دا مو د قام او د ملت چغه ده

مونږ يُو د عدم تشدد پېروکار
زمونږ په خوله د محبت چغه ده

د بې ضميرو په خوله هغه چغه
چې د زردارو د طاقت چغه ده

خلق هم نه دي قرباني ته تيار
تاسو هم پرېښې د ,, غېرت چغه ,, ده

مُلا دا ستا نه به څه طمع لرو
ستا دا منشور خو د نفرت چغه ده

نبته ۱۹۹۸،

Pukhto.Net

*

تېره ازغي دي چې په ګل پورې دي
څکه مې وينې په منګل پورې دي

ما نه بغېر به دا دولت څه کوي
دا څه چې دي خو د يو بل پورې دي

نه منم زه دا فاصلې او تضاد
چې د مهبوند[1] نه بلاول پورې دي

چې مې تنقيد په يزيدانو کوو
څکه مې سرې وينې ګوګل پورې دي

وايه فلکه اوس به کوم پلو خو
لمبې له کوره تر کابل پورې دي.

نبته ۱۹۹۴ء

[1] مهبوند راګ د زړے نوم دے.

٭

جبران ناست وومه سوچ وړے بربوکي ته
بیــا مــې اوکتــل دې خپلــې زنـدګي تــه

په ایمـان د شیطنت پـه دغـه دور کېنې
فکـر وړے یم دا خپـل حسـاس زړګي تـه

ستا له سترګو مې بنۀ ځنبکلي وو نشه ووم
خان مې پرېښے نۀ وو بیا هم بېخودي ته

که جانان راته خپـل لاس راکړے نۀ وے
رقیبــانو غــورزولے ووم کــوهي تــه

خزان هیڅ نۀ دي زمونږ په وجود پرېښي
لکـه وچ ډکـي پـه طمـع یُـو سپرلي تـه

شو دا ستـا د هجـر شپه دومره طویلـه
پـاتې نــه شـومه د هجــر صبانې تـه

نښته ۱۹۹۲.

Pukhto.Net

٭

ددې خبرې نه انکار کومه
چې زۀ هر بڼکلي ته اقرار کومه

يوه خبره زما نۀ شي زغمې
چې قصيدې ئې د ګفتار کومه

خلقو په ويښه ترې مزې واخستې
زۀ ئې خوبونو کښې ديدار کومه

چا ئې په خان زلفې خورې ورې کړې
زۀ ئې ارمان د يوۀ تار کومه

Pukhto.Net

دا زړه مې تول میږې میږې غونډې شي
چې تصور نې د رخسار کومه

دا ستا د زلفو په ول ول مې قسم
د حق خبره به په دار کومه

نه د غریبو سره زور او زیاتے
نه زه پرواه د چا مالدار کومه

د وطن خاورې زما خپلې خاورې
زه به خواهش د خپل اختیار کومه

نه زه عاشق چا د بنانست بې نظیر
نه غلامي د چا زردار کومه

نبتهه - ۱۹۹۴ء

Pukhto.Net

٭

شل زړونه که چوي نو دې اوچوي د هغې په څۀ
هسې به محفل کښې اے زړګيه درزېدې په څۀ

خپله چې خوشحال د محبت په کاروبار کښې يم
بيـا د جفـا کـارو خـود غرضـو نـه ګيلـې پـه څـۀ

پوهـ چې ښۀ د هجـر پـه معنـو او پـه مطلـب يمـه
ښو کښې مې پرتې دي بيا د وصل زولنې په څۀ

ښۀ ده ګني زۀ که ستا په غم کښې مبتلا نۀ وے
دا بې سره شپې به خدائے خبر چې تېرېدې په څۀ

خبـر دے کـه د مينـې رقيبـان مخالفـت کـوي
خدائيګو خبر نۀ يم دې ملګرې راپسې په څۀ

نبتهه ۱۹۹۷ء

*

فریاد مۀ کړه خاتمه د بېلتون نۀ وي
اے زړګیه محبت کښې سکون نۀ وي

چې مابنام شي ستا یادونه راورېږي
بیا په ذهن کښې مې بل څۀ مضمون نۀ وي

عاشقي د مجنونانو وس کښې نۀ ده
تل په دار باندې منصور وي مجنون نۀ وي

مینه هغو ته ناکامه تجربه ده
چې وهلي د حسینو شبخون نۀ وي

د هغو خلقو ژوندون لکه زمونږ وي
چې په کوم ځائے کښې انصاف او قانون نۀ وي

نبته - ۱۹۹۸ء

# يادونه

شنۀ مابنام نۀ دې راغلي دي يادونه
د هر چا نه بنۀ ملګري دي يادونه

د زړۀ وينو مې رنګ کړي دي يادونه
ما په اوښکو لمبولي دي يادونه

د بې خونده ژوند بس دغه سرمايه ده
که هر څو په غم لړلي دي يادونه

په يو، رپ کښې شوې لمحې د وصل تيرې
په نصيب مې رسيدلي دي يادونه

تاکه اووېشتل د زړۀ نه پرواه نشته
ما په زړۀ پورې نيولي دي يادونه

نښته - ۱۹۹۷ء

Pukhto.Net

# انصاف

ربه رالېږه فرښتې د انصاف
ورځې به کله راولې د انصاف

ترڅو به وینم جمهوري تماشې
ترڅو به اورمه نعرې د انصاف

په رڼا ورځ شومه تباه او برباد
کومې دي څهٔ شوې پېمانې د انصاف

توره تیارهٔ شوله په کور د ظالم
مونږه چې بلې کړې ډیوې د انصاف

خېژي په دار باندې بچے د منصور
په وینو سرې شولې جامې د انصاف

نښته فروري ۱۹۹۷ء

Pukhto.Net

٭

چې د ے ستا په انتظار وي
فلک هر څه نه اوزګار وي

ته چې ناسته مخامخ وې
ماحول هسې خوشګوار وي

چې زه خوښ کوم یو دلدار کړم
نور د هر سړي دلدار وي

آ ستا خیال تل برقرار وي
په جنون کښې هم بېدار وي

Pukhto.Net

کــــه ژړګـــې د چـــا خوشـــحال وي
پـــه خـــزان کـــښې هـــم بهـــار وي

څـــهٔ تپـــوس زمـــا د حـــال کـــړې
هـــره شـــپه مـــې پـــه انګـــار وي

د هغـــــو احتـــــساب نـــــهٔ وي
محتـــسب چـــې د چـــا يـــار وي

نښته :- فروري ۱۹۹۷ء

Pukhto.Net

✻

ښهٔ بد تپوس نې څهٔ کړې خو ژوندون په ما تېرېږي
لمحې درنې درنې ستا د بيلتـون په ما تېرېږي

قصور د هيچا نشته بس دي خپل احساس د لاسه
يو شل خله په ورځ کښې زړهٔ چاؤدون په ما تېرېږي

بل غم دې مبارک شه اے زړ ګيه ژوند ے اوسې
څو ورځو نه بې غمه شان ژوندون په ما تېرېږي

جوتې د زمکې مـخ نـه تـر اسمان پورې وهمه
عجبـې مرحلـې دي د جنـون پـه مـا تېرېـږي

رښتيا وايـم جانانـه ستـا د هجـر پـه لمبـو کـښې
دا مياشـت د دسمبر لکـه د جـون پـه مـا تېرېږي

ښتهه ـ دسمبر ۱۹۹۲ء

٭

اوس په کلي کښې قيصې کوي ياران
څه به وايم بس مزې کوي ياران

چې زما د زړهٔ د زخم ذکر کېږي
ستا د حسن تذکرې کوي ياران

مونږ ته پته ده هيڅ سره وخت نشته
هسې مونږ سره وعدې کوي ياران

چې خبر دي د انسان د بې وسۍ نه
څه له دومره اندېښنې کوي ياران

Pukhto.Net

بیــا بــه ســتا د دیــدنونو بهــار راشــي
بیــا بـه خپلـو کـښـې غـوبـمې کـوي یـاران

په مستیو کښې جورړ پاتې نۀ شو خوند
ارادې چـــې د تـــوبې کـــوي یــــاران

چې ژوندے وومه حقدار د مینې نۀ ووم
اوس په یاد کښې مې جلسې کوي یاران

نبته :: ۲۰۰۲ء

Pukhto.Net

# د نصرالله جان په وفات

نن مې زړۀ کښې بيا لمبې کوي زخمونه
نن بالا دي په غمونو ستا غمونه

نن په زړۀ کښې د درد ونو پشکال دے
نن وريږي مې د سترګو اسمانونه

نن په ما باندې راغلے داسې غم دے
نن دې څوک نۀ کړي د صبر تلقينونه

تا خو ما نه اجل هم اخستے نۀ شي
څوک به منع کړي زمونږ ملاقاتونه

ستا يادونه خو د زړۀ راپورې وخي
ميني څۀ به وي د خاوړې ديوالونه

د خدائے کومو نعمتونو به انکار کړم
ميني خار دړخني وارۀ نعمتونه

Pukhto.Net

خـدائـے دې تـل ګـل ګلـزار لـرې وطـن سـتا
مـا تـه بـس دې سـتـا د هجـر مابـنـامونه

شـاعـرانو نـې ذکـر کـړے خـو ضـرور وو
خـو وې دومـره سـخـت د هجـر مابـنـامونه

بـس د خپـل زړګـي عـلاج درسـره نـهٔ وو
ګـنـې تـا خـو جـوړول مـات شـوې زړونـه

دې هـم هغـه شـان پـه پـانـو محفلونـه
دې هـم هغـه رنـګ د مبلـې[1] بهارونـه

هغـه ښـهٔ شـو دا تپـوس کـوې زمـا نـه
د هنګـــو مـــازيګرې او مابنــامونه

اخـر مـونږه دې جـنـدا کـړو د واوُو[2] نـه
تـهٔ خبـر نـهٔ نـې تـا ښـهٔ اوکـړل ببلتونـه

نبتهه ۰ اګست ۱۹۹۲ء

---

مبله . زمونږ حجره ده
واوُو به مونږ خپل وور ته وېيل

# سبق

قبـــصې کـــوه د منینـــانو
وایـــه ســـندرې د ګلانـــو

قـــصیدې وایـــه د خوبـــانو
ملګرتیـــا کـــړه د رنـــدانو

ژاړه پـــه غـــم کـــښې د خوارانـــو
اوســـه دشـــمن د ظالمـــانو

کـــه پـــه رښـــتیا انقلابـــي وې
کـــه تـــهٔ بچـــے د ابـــدالي وې

کـــه پـــه غـــم ســـوے د لالـــي وې
کـــه تـــهٔ د امـــن یـــو ســـوالي وې

Pukhto.Net

خــو تــهٔ هغــه ابــدالي نــهٔ نــي
چــې غوتــه کېـــږي پــه مرهتــو

نــهٔ د ســتا عقــل د ے خلانــده
نــهٔ خــو دې زور پــاتې د متــو

تــهٔ نــې د بــل د وينــو تــږے
ظـــالم انــسانه جــور د ختــو

اوس آ ريـــاب د آدم نـــشته
اوس خـــو درزه ده د راکتـــو

خورمـــه ســوگند ســتا پــه ملالــو
پــه ښانــستاؤ ســترگو غتــو

تــهٔ کــه ســوزېږي پــه خپــل اور کــښې
زهٔ هـــم ورتــږم پــه ســکروټو

دا چـــې د بـــل د لاســه تــروږي
دا چـــې د بــل پــه وينــه پــاني

Pukhto.Net

دا چــې غريــب تــه ســترګې ښـــاني
دا چـــې زردارو تـــه ئــې شـــا وي

دا تـــول زمـــونږه قـــاتلان دي
دا فرعونـــــــان او يزيـــــــدان دي

دا فرشـــتې نـــهٔ دي پيريـــان دي
دا تـــول زمـــونږه قـــاتلان دي

نښته :- ۱۹۹۴ء

Pukhto.Net

# يو وړوکے هلک

تـن مـې وړوکے شـان هلـک اولیـدو
دا ښکلې سترګې ئې ښۀ مرې غونډې وې

دواړه لاسـونه ئـې ککـړ پـه ختـو
پـه مـخ ئـې ډېرې اند ښښنې غونـډې وې

د غریبـې او بـې وسـې د لاسـه
جـامې شـلیدلې ئـې پـه تـن ښـکاریدې

چې مـې لـږ نـور ورتـه پـه غـور اوکتـل
ډېرې ئـې نخښې پـه بـدن ښـکاریدې

ستړمون ئـې سترګو نـه عیان غونـډې وُ
د زمـــانې ظلـــم وهلـــے غونـــدې

د خپـل ژوندون نـه ؤ بېـزاره غونـدې
د جنـــګ د لاســـه لړزيـدلې غونـدې

چې د امبـد لمنــه پرې نـۀ ږدې تـۀ
ماشـوم مـزدوره اندېـښنې مـۀ کـوه

تـۀ نـې غريـب د اميرانـو مخکـښې
دا بـې اثـره شـان ګيلـې مـۀ کـوه

تـۀ نـې زمـرے د احمـد شـاه بچيـه
يـره ونکـړې د مغلــو د زور

لاسـونه مـۀ نيسـه د بـل پـه مخکـښې
خـان کـړه خبـر دخپلـو متـو د زور

زمـا خبـرو پـرې اثـر وکـړلـو
د هغـۀ سـترګو کـښې مـې نم وليـدو

چې کـومې سـترګې نـې لاتقـې نـۀ وې
پـه هغـه سـترګو کـښې مـې غم اوليـدو

Pukhto.Net

چـــې پــستنه تـــرې نـــه راتلـــم ملګـــرو
زړهٔ مـــې فکرونـــه اندېـــښنې راوړلـــې

ســـترګې زمـــا پـــه وريـــدلو شـــولې
قلـــم مـــې ســـوي شـــان مـــصرعې راوړلـــې

نېټه :- ۱۹۸۱ء

Pukhto.Net

# بې ګناه

بيا په جماعت کښې وينې چا توئې کړې
بيا بې قصوره کوم انسان قتل شو

جهان خو وي په انسانانو اباد
نو مطلب دا دے تول جهان قتل شو

زما تو به چې د اسلام په جنګ کښې
اول د تولو نه ايمان قتل شو

په وينو سرۀ دي دا د چا لاسونه
کله به نيسو دا خُفيه لاسونه

✹

همېش د ګل او د سپرلي په امېد
مونږ دا ازغنو انتخاب کړے دے

Pukhto.Net

چمن کښې تل د تپوسانو په نوم
مونږ د بلبلو احتساب کړے دے

هغه تول څه شو چې نې مونږ ته مدام
تبليغ د سره شنه انقلاب کړے دے

دا ژوند تر څو به په دهوکو تېره وو
هره ورځ ولې په ازغو تېره وو
*
نه دوستان پېژنو نه خان پېژنو
دغه زمونږ په شعور څه شوي دي

د ښځه نرانو عزت تار په تار شو
زما د قام په غرور څه شوي دي

کوي په دار باندې د حق نه انکار
ددغه دور په منصور څه شوي دي

ظلم زغمو خو ظالمان خپله يو
د زړه درد ونو ته درمان خپله يو

جنوري ۱۹۹۸ء

Pukhto.Net

❋

چــې اخلــي رانــه وخــت امتحانونــه
جــورې دا دي د عــشق نــوي منزلونــه

زمـــا يـــار ســـره پـــه دغـــه اخـــتلاف دے
چې زۀ نــۀ مـنم پـه ميـنـه کـښې شـرطونه

زۀ پــښتون يمــه زمـــا هـــم مجبــوري ده
رقيبــان دې هـــسې نـــۀ چيچـــي غابــښونه

چې زمونږ تقدير زمونږ په لاس کښې نۀ دے
خدايــه را دې وســـتل څرنگـــه وختونـــه

دغـــه کـــار د قربـــانۍ او د عمـــل دے
پـــه خبـــرو نـــۀ راځـــي انقلابونـــه

مـــونږه غـــواړو بـــې حـــسابه محبـــت
مـــونږه نـــۀ غـــواړو د چـــا نـــه حسابونه

مئی ۱۹۹۸ء

Pukhto.Net

# يوه ښکلې جينۍ

ښکلي غنچه ده خوشبوني نه ډکه
ښکلے چمن دے خو ماليار نۀ لري

زړۀ کښې د مينې خزانې لري دا
خو د زخمي زړګي قرار نۀ لري

د چا چمن کښې تو کيدلے دا ګل
اوس چې مودو راسې بهار نۀ ګوري

ښکلي خواني غمونو اوخوړله
په دې خدايۍ کښې څوک غمخوار نۀ ګوري

هغه لاسونه نې نيولي راته
کوم چې ښۀ ښکاري سرو نکريزو سره

دا ښکلي تیتې تیتې سترګې
خوند کړي ادا او د مکیزو سره

دا به هم ښکلي مستقبل د پاره
په خپل زړګي کښې امېدونه لري

داسې خواني وي د مستۍ زمانه
دغه خواني ځو مره دردونه لري

راشه نزدې راته خپل حال اووايه
نن چې دا خپل زړګے پامال واچوم

راشه د مینې ځو خبرې اوکړو
او په تور سر درته زۀ شال واچوم

نښته :- ۱۹۸۰ء

Pukhto.Net

❋

که یارانو زمونږ کړے لږ غیرت وے
نو زمونږ د پورې غرهٔ سر به اوچت وے

مشرانو زمونږ کړے که جرأت وے
د نفرت په ځائے به ښار کښې محبت وے

مونږه غوارو د ګولو په ځائے ګلونه
مونږه غوارو چې وطن زمونږ جنت وے

که سکون وے د مُلایانو په مجلس کښې
مونږ به ولې میخانو سره رغبت وے

که خبر وے لږ د کلي معاملو نه
نن به ولې دا خفګان او ندامت وے

خپل منزل ته به وختي وو رسیدلي
که جذبو کښې مو اخلاص او صداقت وے

نښتهه ۲۰۰۲ء

*

زمــونږ ښــار کــښې يــو اعــلان عــام شــوے
چــې زمــونږ د بربــادۍ اهتمــام شــوے

بې شک ما د پورې غرۀ په سر پهانسي کړئ
خــو دا حکــم اخــر کــوم پــه الــزام شــوے

چــې ددۀ پــه رنگــه نــۀ يــم نــو کــافر يــم
پــه مُــلا بانــدې لــه بــره الهــام شــوے

د لېلــى پــه غــم کــښې چــا چــې جهــان پرېــښے
د مجنون غوندې په عشق کښې ناکام شوے

نېټه:- ۱۹۹۹ء

Pukhto.Net

✻

نـن تـاريخ اخـستے داسـې يـو قـدم دے
چې هر کور او په هر کلي کښې ماتم دے

پـه الفـاظو کـښې اظهـار کـولے نـهٔ شم
زړهٔ مـې سـوے دے خيګـر قلـم قلـم دے

خـدائے راکـړے د جنـت غونـدې وطـن وو
مـونږ په خپله تـرې جوړ کـړے جهنم دے

دا زمـــونږه د اعمـــالو نتيجــــه ده
هسې وايو چې فلانکے او ډينګے ګرم دے

Pukhto.Net

چـــا کـــړلے داســـې فـــصـل د نفـــرت وو
چې خپل ورور او خپل تربور راته برهم دے

سر به ټیټ د چا ظالم په مخکښې نۀ کړم
مـا خـوړلے سـتا پـه سـر بانـدې قـسم دے

چـې پرچـــار د محبـــت کـــوې فلکـــه
انـــسان هغـه پـه دنیـا کـښې محتـرم دے

نبته :- ۲۰۰۷ء

Pukhto.Net

# جدائي

ستا محفل خو به زمونږه زندگي وه
اوس ستا خپله زندگي يو افسانه شوه

ته د ژوند په قيمتي وخت کښې برباد شوې
زما ژوند د بربادۍ يوه قبصه شوه

ستا خبرې خو جنون په ما طاري کړو
ستا خبره خو سنگينه مسئله شوه

٭

بيا په کلي کښې غوټۍ د بهار گل شوې
خوشبودار شو بيا د مېلې[1] ماښامونه

---

مېله زمونږ: حجرې نوم دے.

استقبال دې په څه وکړمه سپړليه
ګرېوان څيرې دے خالي زمونږ کوتونه

مرګے حق دے خو دا زړه مې داسې وائي
څنې خلقو ته دې نۀ راتلے مرګونه

✱

ما شل خله خبردار کړې د زړه سره
پُر خطره چې د زړونو معاملې وي

تا به ونيل خبر دے فلکه پرواه نشته
چې ژوندون وي نو دا هر څۀ خو پکښې وي

کاش چې تا په خپلو سترګو وے ليدلے
چې لمحې د بيلتانۀ څومره درنې وي

نبته ۔ ۲۰۰۱ء

# بېتابي

سر کښې مې ګرځي عجیبه خیالونه
سترګې مې ګوري نا اشنا خوبونه

زړه مې خوړلي ناروا زخمونه
وربانده کم نه دي دا ستا غمونه

چې مې بېتاب کړي د ښکلا یادونه
زړه مې راتینګ کړي د صبا لوظونه

څنګه تیرېږي بې له تا وختونه
مه کوه پرېږده خامخا ضدونه

مونږه راوستي په ژړا سیندونه
مونږه کړلي د وفا ګلونه

Pukhto.Net

اوس محبـت کـښې ضـروري دے شـعور
زمانـــــه لاړه د لیلـــــــی مجنونـــــه

لاس کـــښې نیـــولي دي اشـــنا جامونـــه
غـــواړي بـه دې کـښې کـوم سـاده سـتونه

صنم ، جانـان ، معـشوقه ، یـار ، محبوبـه
دا ســـتا د حـــسن دي بـــلا نومونـــه

دلتـــه کـــښې چـــا کـــړي پـــوره فرضـــونه
مـــونږ تـــه معلـــوم دي د مـــلا نیتونـــه

د ژوند سازش کښې هر سړے دے شامل
زۀ پکـــښې نیـــسم بـــه د چـــا لاســـونه

نبته - ۱۹۹۴ء

Pukhto.Net

*

دیدنونــه بــه دا ســتا وي او کــه نــه
دا وختونــه بــه صـبـا وي او کــه نــه

تــهٔ د خلقــو پــرواه مــهٔ کــوه زمــا شــه
پــه طــرف مــې کــه دنیــا وي او کــه نــه

دا رښتیا دي چې پــه تــا بانــدې شیدا یم
کــه د چــا پکـښې رضــا وي او کــه نــه

یــو مُـلا ښـې د یــو رنــد نــه تپــوس وکــړو
چــې پــه څکلــو کــښې مــزه وي او کــه نــه

نن صبا که څوک د خېر په غونډې ناست وي
دا خېرونــه بــه نــې صــبـا وي او کــه نــه

نېټه - ۲۰۰۲.

# حضرت امام حُسین علیه السلام

حُسینَ تا خو د اسلام شمعې روښانې کړلې
زمونږ رګونو کښې دې سرې وینې روانې کړلې

حُسینَ تهٔ خو شوې شهید د کربلا په خاوره
عظیمې خور دې انقلاب قېصې پرېشانې کړلې

ستا د اکبر او د اصغر وینې که توې شولې
ستا قربانی خو د تاریخ سترګې حېرانې کړلې

وژ به تر څو پورې فلک په ګردشونو کښې ګیر
خو کربلا د ژندګی معنې اسانې کړلې

Pukhto.Net

٭

خـــزان لاړو د غنچـــو زمانـــه راغلـــه
بيـــا د جـــام او مېکـــدو زمانـــه راغلـــه

پابنـدي پـــه محبـت او پـــه جنــون شــوه
چـــې زمــونږ د لېونـــو زمانـــه راغلـــه

يـــخ بادونـــه د شـــمال لـــه خـــوا رالـــوځي
اے کلـــو د تورکېـــدو زمانـــه راغلـــه

دا رنګينـــه لوپټـــه دې اوس پـــرچم کـــړه
پـــه وطـــن د خارېـــدو زمانـــه راغلـــه

Pukhto.Net

بيا مې عقل د جنون ګوتو کښې ګېر دے
بيــا دا ســتا رســوا کېــدو زمانــه راغلــه

ښــکلول چــې د ازغــو هــم ګنــې کفــر
پــه ګلــشن کــښې د هغــو زمانــه راغلــه

دا زخمونــــه د ځيګــــر مــــې لاتــــازه وو
چــې د زړه د چاؤدېــدو زمانــه راغلــه

د فلــک پــه ديــوال هــسې کــاږغې بــولي
کــه رښــتيا نــې د راتلــو زمانــه راغلــه

نېټه: ۱۹۸۲ء

Pukhto.Net

٭

چې د سترګو کوم خوبونه معلومېږي
هېبتناک ئې تعبیرونه معلومېږي

چې په زړه دې کوم راکړي دي زخمونه
ماته ستا د لاس ګلونه معلومېږي

نن چې ماته رقیبانو مخکښې خاندي
خدائیګو دې کښې دې چلونه معلومېږي

ته چې کومو محلونو کښې اوسېږې
د مئینو مزارونه معلومېږي

په ګرېوان باندې چې سرې وینې مې څاڅي
د سرو لاسو حرکتونه معلومېږي

دا زما د زړهٔ اواز دے ته ئې واوره
هسې تاته به شعرونه معلومېږي

نبته ۱۹۷۹ء

Pukhto.Net

❋

Pukhto.Net

څۀ حقیقت دے په وعدو کښې د یار
چې انتظار کوم په شپو کښې د یار

هغه مقام دے لبونو کښې زما
چې کوم مقام دے په ښائستو کښې د یار

څوک که زما د زړۀ لیدل غواړي
ما دے تومبلے په ښو کښې د یار

زړګیه پام کوه فریاد اونکړې
خلل به جوړ شي مشغلو کښې د یار

تــل بــه زهٔ وينــې ورکــوم د زړګــي
تــل بــه سـرخي وي اننګـو کـښې د يـار

دومــره لــذت بلــې دعــا کــښې نــشته
څـومره لـذت دے پـه غوښتو کـښې د يـار

کلـه چـا ولـيـدو پـه طـور کـښې هغـه
کلـه ښکاره شي پـه جلوۀ کـښې د يـار

هغـه چـې مـا وۀ پـه ډېـر نـاز سـاتلے
هغـه زړهٔ لـوټ شـو پـه کوڅـو کـښې د يـار

نښته - ۱۹۷۸ء

٭

بې لـه تـا نـه بـه مـا ځنګـه خپلولـه زمانـه
مـا تـهٔ غوښـتې دلبـره تـا غوښـتله زمانـه

قسم دے چې به ختم خپل وجود کړم ستا دپاره
کـه مخـې تـه مـې راغللـه هـر کلـه زمانـه

چې ستاپه زړهٔ کښې زهٔ يم او زما په زړهٔ کښې تهٔ نې
پـوهېږې بـه پـرې کلـه دا پاګلـه زمانـه

يو زهٔ خو قانـل نهٔ يم ستا د سترګو جادوګرو
ستا سـترګو خـو جانانـه واړولـه زمانـه

تا لاس چې راتـه راکړو اوس دنيا راپسې ګرځي
پـرون کـه رانـه لـرې لـرې تللـه زمانـه

زمـا پـه اشـارو بانـدې نـن هغـه څـوک ګـډېږې
د چـا پـه اشـارو چـې ګـډېدلـه زمانـه

نبته ۱۹۸۰ء

*

تاته کوم چې صفتونه دا ستا
د شرمه سره شي رخسارونه دا ستا

ښکلې بنګلې او بې حسابه دولت
ماته معلوم دي ارمانونه دا ستا

سپینې سپوږمۍ او سرو ګلونو اشنا
تولو پټ کړي دي رنګونه دا ستا

کله د شعر کله د اوښکو په رنګ
ډېر په نخرو راځي یادونه دا ستا

چې څوک زمونږ په شانې ظرف نه لري
کله زغملے شي غمونه دا ستا

نښتیه ۱۹۸۰ء

✵

چې يو تـۀ زمـا پـه خنـګ کښې وې ولاړه
خفـه نـۀ يـم کـه دنيـا مـې شـي ويجـاړه

نـۀ نـې نقش د قـدم او نـۀ نـې لار شـتـه
خـدائے خبـر چې پـه کـوم لـوري رانـه لاړه

چې تـر څـو پـورې د هجـر تـوره شپـه وي
اے زړګيـه بيقـراره هـومره ژاړه

داسې ښکار بـه دې پـه ژوند نـۀ وي موندلے
اے صيـاده چې پـه خپلـه درکـړي غـاړه

زمـا سـوي زړۀ نـه اووخـي ازارونـه
اے رقيبـه تـۀ د خـان خبرونـه غـواړه

نښته ۱۹۸۲ء

❋

اوښکې ستا په یاد کښې بهېدلو ته تیارې شي
بیا د دېره غمه د ښو په سر ایسارې شي

نن راته یو وارې که په مینه مینه اوګورې
ولې به دې یاره ښکلې سترګې ګنهګارې شي

ته چې سترګې واړوې په سمه تیند کونه خورم
ته چې راته ګورې نو د غرۀ تیږې اوارې شي

تا ورته که یو خله په ښکلو سترګو اوکتل
زما دا اودۀ شوې حوصلې به رابېدارې شي

ښېته - ۱۹۷۹،

PukhtoNet

*

چې صفت کـوم مـدام د مـړاو سـترګو
چرتـه نـوم نـهٔ شي بـدنام د مـړاو سـترګو

نعمتونـه د دنیـا مـې پکـار نـهٔ دي
کـه حاصـل شـولو مقـام د مـړاو سـترګو

د ښـو غـشي نـې اوښـتل بـې خیالـه
مـشهور نـې کـړلـو نـام د مـړاو سـترګو

دې نـه زیاتـه ازادي بـه زمـا څـهٔ وي
یـاره تـا چې کـړم غـلام د مـړاو سـترګو

ښـکلو تاسـو تـه حاجـت د ونیلـو نـشته
مـونږ پـوهېږو پـه پېغـام د مـړاو سـترګو

نبتهه - ۱۹۷۹ء

Pukhto.Net

٭

د غم په سمندر کښې چې ارمانه غورزېدلې
په هغه وخت مې اوښکې د چشمانه غورزېدلې

د چا لاس کښې ازغې وو او د چا لمنې څيرې
چې پاڼې د سپرلي له ګلستانه غورزېدلې

هم دغسې به تير شي ستا د حسن بهارونه
چې څنګه د ګُل پاڼې له ګلدانه غورزېدلې

پوهېږمه ساقي چې دا د ستا سترګو اثر دے
کاسې چې په محفل کښې د مُلانه غورزېدلې

Pukhto.Net

زمـــا د تنهـــايي جـــوړې احـــساس درســـره نـــهٔ ؤ
په غېږ کښې د رقيب چې اے جانانه غورزېدلې

د غېـــرو پـــه اوږو بانـــدې دې واچـــول لاســـونه
د تنـــدر سلـــسلې وې د اســـمانه غورزېـــدلې

زړګيـــه خبـــر نـــهٔ وې چـــې وفـــا کـــول ګنـــاه ده
د مينې په دلـدل کښې چې نادانـه غورزېدلې

نښته :- ۱۹۸۲ء

Pukhto.Net

*

هله حال نه ئې خبر شوې
چې فلک خاورې په سر شوې

دا د ستاسو بې رُخې وه
چې سجدې مو در په در شوې

یار مې ولیدو په خیال کښې
اے د هجر شپې اختر شوې

مُلا خوان وې مست په منیو
چې بوډا شوې قلندر شوې

خوار و زار به شې زړګیه
که د مینې ګداګر شوې

فلک نه دې ازمیلې
که د یار شونډې شکر شوې

نبته ۱۹۸۱ء

Pukhto.Net

*

پـه تـا مـنـيـن شـوم کړۀمـه زړګـے
لـه خپلـه لاسـه سـوزۀمه زړګـې

چـې پکـښې مينـه کـول کفـر ګڼـي
پـه هغـه خـانے کـښې ورکۀمـه زړګـے

هـره کوڅـۀ شـوه سـلطنت د ښـکلو
زۀ بـه د چـا نـه بـچ کۀمـه زړګـے

چـې مينـه نـۀ وي نـو ژړيـږي خـو بـه
کـانړے خـو نـۀ دے اے صـنمه زړګـے

عمـر مـې تـول پـه انتظـار تيرېږي
فلـک تـر څـو بـه غلومـه زړګـے

نښتهه ۱۹۸۲ء

Pukhto.Net

٭

ښکــه خلقــو تــه سـبب د حېرانــی شــوم
چې د ستا خمــارو سترګو ارمـاني شـوم

ستا دپــاره یــم پــه شــان لکــه د مومـو
غبــر غمــاز دپــاره تنــدر طوفــاني شــوم

دېــره ښــه شــوله چــې دواړه برابــر شــو
ته په حسن زه په عشق کښې لاثاني شوم

واړه عقــل رانــه لاړلــو قــرار لاړ
ستا په مینه کښې زه څومره تاواني شوم

دغــې زمکــې دېــر پــې مخــې دي خــوږلي
فلــک څــه اوشــو کــه زه چرتــه فــاني شــوم

نبتهه ۱۹۸۴ء

※

چـــې جـــدا شـــولو جانـــان زمـــا د زړهٔ
تـــورې ښـــاؤرې شـــو جهـــان زمـــا د زړهٔ

یـو مـې صبر ، بـل مـې عقـل ، بـل قـرار لاړ
واره لـــوټ شـــولو ســـامان زمـــا د زړهٔ

نرمـې شـونډې نـې زخمـي شـوې په جامونو
وینـــې ښکـــل نـــهٔ دي اســـان زمـــا د زړهٔ

پـــه والله د نجـــومي ونیـــل ربنـــتیا شـــو
فریـــب جـــن دي تـــول یـــاران زمـــا د زړهٔ

Pukhto.Net

هر یو خانے نې ستا په مینه مالامال دے
چـــرې واخلـــه امتحـــان زمـــا د زړهٔ

که معلـوم شـي درتـه زړونـه ددې خلقـو
هلـــه اوبـــه کـــړې ارمـــان زمـــا د زړهٔ

خلـق تـول د هغـو سـترګو لېـوني دي
چـې نـې واخـسـتو ایمـان زمـا د زړهٔ

نبته - ۱۹۸۱ء

Pukhto.Net

❋

یو هنګامه دې په راتلو جوړه کړه
ویر او ژړا دې بیا په تلو جوړه کړه

کله د زړه دنیا دې ورانه کړله
کله دې سترګو په کتو جوړه کړه

خندا به یار په شونډو جوړه نه وه
ګریوانه تا نې په شلېدو جوړه کړه

کلي ګښني د ېرو ګنهګار د میني
خلقو قیصه زمونږ د دوؤ جوړه کړه

چې دې لاتق نه یم صفا او وایه
هسې بانه دې د پښتو جوړه کړه

نښته - ۱۹۷۹.

*

ستا په دې زلفو کښې ګلان ښه ښکاري
زمــا پــه وینــو ســور ګرېــوان ښــهٔ ښــکاري

دیــدن لــه درشــم خفــه کېــږې ولـــې
د شمعې څنګ کښې پتنګان ښهٔ ښکاري

قاتــل چــې وي ظــالــم دا ســتا پــه شــانې
ورسره زمــا رنــګ مظلومــان ښــهٔ ښــکاري

دا ســتا د زړهٔ هــر یــو مــراد قبــول شــه
زمــا پــه زړهٔ ســوې ارمــان ښــهٔ ښــکاري

۱۹۷۸ء

Pukhto.Net

*

قرار قرار به پکښې خان اوخوري
څوک چې غمونه د جانان اوخوري

شمع روښانه شي محفل شي روښان
غضب لمبې نې پتنګان اوخوري

د عاشقانو بد نصیب ته ګوره
څومره دهوکې په دې جهان اوخوري

منافقان دې د تهمت نه اول
شل قسمونه په قرآن اوخوري

غواړي که څوک د لوېتو حفاظت
پرېږدئ سرونه چې خوانان اوخوري

Pukhto.Net

*

په زخمي زړه زخمونه مه راکوه
په درد کښې نور دردونه مه راکوه

چې غور زېدم هېڅ سهارا مې نۀ وه
اوس يم ولاړ لاسونه مه راکوه

که خوشحالي تۀ راکولے نۀ شې
جانانه نور غمونه مه راکوه

چې پکښې وينې د مظلوم دي ساقي
ماته هغه جامونه مه راکوه

نبتهه - ۱۹۸۰ء

Pukhto.Net

✻

## د رحمان بابا په طرح

زهٔ چې ژاړم ستا خندا څهٔ پکار نهٔ ده
دا د ظلم انتها څهٔ پکار نهٔ ده

په ښهٔ بدو اوس پوهېږمه ناصحه
په هر ځائے کښې دې وینا څهٔ پکار نهٔ ده

په ژوندون خو مې سحر لیدلے نهٔ دے
اوس په قبر مې رڼا څهٔ پکار نهٔ ده

ستا د شونډو یو اقرار زما پکار دے
د بل چا پکښې رضا څهٔ پکار نهٔ ده

چې لیدل دې راته ګران شو زما یاره
اوس زما دغه دنیا څهٔ پکار نهٔ ده

زهٔ خو ستا د ادا ګانو لېونے یم
زما د چا نازؤ ادا څهٔ پکار نهٔ ده

Pukhto.Net

❋

اوس چې زمـا سـترګې بېبـاکې شـولې
ولــې دې ســترګې شــرمناکې شــولې

پـه هغـو سـترګو کـښې خنـدا چرتـه ده
کــومې چــې تـا پـسې نمنـاکې شـولې

پکـښې بـه سـور د وينـو ډنـډ اووينـې
کـه مې لـه اوښکو سـترګې پـاکې شـولې

کــه دې مجنــون چرتــه ليــدلے نــۀ وي
راشـه هغـه نخښې اوس مـا کـښې شـولې

چــې د جانــان زلفــې خــورې ورې شــوې
فلــک د چــا چــا سـينې چـاکې شـولې

نبتهه ۱۹۸۰ء

٭

توري وريځې شوې خورې په اسمان رو رو
تـا بـه بيـا وي خـورې کـړې زلفـان رو رو

دا تـه مانـه هـسې لـړې لـړې ګرځـې
کـه مې بـاغ تـه نژدې کيـږي خزان رو رو

تقاضې بـه نې تـول عمـر رانـه ستـا کـړي
رانــه لاړو هغــه ستــړے ارمـــان رو رو

پـه يـو وارې مـې بـس اووژنـه جانانـه
ولـې غـشي غـورزوې لـه کمـان رو رو

فلـک کلـه چې د زړه زمکـه تـاوده شـي
ورؤمــه د شــعرونو بـــاران رو رو

نښته - ١٩٨٢ء

PukhtoNet

*

مړېـدو ګلـه د ګلـو پـه کتـو زړهٔ
چـې منـین ؤ د اشـنا پـه اتنګـو زړهٔ

خو په خوله باندې مې هیڅ ونـیلے نهٔ شو
کـه هر څـو راتـه سینه کښې ژړیـدو زړهٔ

لکـه نمر چـې د مابښـام ځنګـه ډوبیـږي
د هجـران پـه شـپه مـې داسـې ډوبیـدو زړهٔ

ماتـه یـادې دي د میـنـې هغـه ورځـې
نـهٔ خیګـر بـه ؤ سـینه کښې نـهٔ بـه ؤ زړهٔ

Pukhto.Net

چې زما زړۀ تـه غمونـه راکـوي ځـوک
خدایـه پاکـه خفـه مـۀ کـړې د هغـو زړۀ

چې لمبـې د محبـت پکـښې بلیـږي
سـرۀمه د شـرابو پـه کاسـو زړۀ

شُوم به نۀ وي ستا په شانې په دنیا کښې
را دې نـۀ کړلـو پـه سـوال او پـه زارو زړۀ

د هغـو خلقـو د لاسـه خـو رسـوا شو
چې پـه چـا بانـدې فلکـه نازیـدو زړۀ

نبتهه - ۱۹۸۲ء

✻

که د جانان دغه مرضي ده چې څۀ اونۀ وائي
زړګیه خبر دې مجبوري ده چې څۀ اونۀ وائي

ناصحه لوظ کوم چې بیا به کله کله ښنبمه
نن ګوره شپه د جدایي ده چې څۀ اونۀ وائي

ما ونیل چې شبخه اسلامي نظام به کله راخي
وائي هم دغه مې روزي ده چې څۀ اونۀ وائي

منم په دار باندې د حق خبرې سر پریکوي
خو دا هم لویه ناداني ده چې څۀ اونۀ وائي

جانانه خبر دې که مې ستا سترګو بوسه واخسته
دا د ماشوم زړۀ ناپوهي ده چې څۀ اونۀ وائي

نبته ۱۹۸۲ء

٭

نـه مېخـانو نـه پـه ګلونـو کـېږي ؤ
فلـک خوشـحال ستا محفلونـو کـېږي ؤ

هغـسې خونـد پـه خوشـحالو کـېږي نـه ؤ
چې څنګـه خونـد ستا پـه غمونـو کـېږي ؤ

هغـه تـر اوسـه د زړه سـر دے زمـونږ
څـوک لـه اولـه زمـونږ زړونـو کـېږي ؤ

هغـه مـزه دې پـه جلـوؤ کـېږي نـه وه
چې کـوم سـرور پـه حجـابونو کـېږي ؤ

PukhtoNet

ځو مره مغرور وومه هغو ورځو کښې
چې سر مې ستا په قدمونو کښېږ ؤ

هغه تپوس زما نه ولې کوې
چې ئې خواب ستا په سوالونو کښېږ ؤ

راځي به کله هغه سُور انقلاب
چې ئې مثال په تاریخونو کښېږ ؤ

نېټه:- ۱۹۸۳ء

Pukhto.Net

٭

بنـدیوان یمـه د میـنـې پـه سـودا کـښې
نهٔ ګلشن کښې مې زړهٔ لګي نهٔ صحرا کښې

زړهٔ چـاؤدلے سـتا پـه در کـښې زهٔ ولاړ یـم
یا په آؤ کښې خواب راکړه یا په نا کښې

یـو انکـار زمـونږ د شـونډو پـه سـرونو
یـو اقـرار زمـونږ د زړونـو پـه درزا کـښې

نـن د زړهٔ دنیـا کـښې ورځ د قیامـت ده
چې مې ولیدې رقیب سره په خوا کښې

Pukhto.Net

دغـه غـم د جانـان نـۀ دے د دوران دے
چې غلط به شي په جام او په مينا کېږي

دغه شے دلته کېږي نشته دے ناياب دے
اے زړګيـه خلوص مـۀ ګـوره دنيـا کـېږي

لېونيــه دا د زړونــو درزېـدل هــم
غنيمـت ګڼـه پــه دې ځــپـه ځپيـا کــېږي

وه سـپوږمۍ د ځوارلـسمې هنګامـه وه
نۀ ځۀ هوش ؤ په ساقي کېږي نۀ مُلا کېږي

د منـزل طمـع پـه ځـۀ لـري فلکـه
ځوک چې لوټ شي د سفر په ابتدا کېږي

نبتهه - ۱۹۸۴ء

Pukhto.Net

*

که ولاړ یم ستا په لاړ باندې نو څۀ
چې خوشحال نۀ شوې دیدار باندې نو څۀ

خوشکن دې د جانان په بستر نۀ وي
زۀ که پروت ووم په انګار باندې نو څۀ

بُلبل ونیلے یو سندره قدرې نۀ شي
که سپرلے وي په ګلزار باندې نو څۀ

زمونږ مخکښې شو اوربل د دُرخو لوټ
اوس که خېژي څوک په دار باندې نو څۀ

*

نهٔ مې زړهٔ روغ په سینه کښې نهٔ مې دم پاتې په پښو کښې
دا د چا د غم اواز دے چې شور ګډ دے په کوڅو کښې

د دریاب زړګي مالکه لږ خو اوګوره په تلو کښې
دا قطرې قطرې د اوښکو د یارانو په لېمو کښې

په چمن کښې ویراني شوه بې خوندي په مېخانو کښې
نهٔ په ګلو کښې بوني پاتې نهٔ مستي په باغیچو کښې

د دنیا په تاریکو کښې د خلوص لوړه مناره
تل یادېږي به د کلي د ځوانانو په جرګو کښې

اے تقدیره ستمګره چې دا ورځ دې راوستله
لګولے به دې اور وو د دنیا په رنګینو کښې

یادوو به دې زړګیه په خندا او په ژړا کښې
ستا غمونه نهٔ خانېږي دا زما یو څو مصرعو کښې

# يو ملګري ته

لا د وير په چم کښې وار د نغمو نۀ دے
لا مطرب د زمانې په خوب اوده دے

لا تر اوسه په رندانو کښې نفاق دے
لا هم هغه زور انداز د ژوندانۀ دے

لا ياران د سور سپرلي په انتظار دي
لا خبر د قافلې راغلے نۀ دے

د ملګرو يو خبره بس رښتيا شوه
چې په وينو باندې سرۀ تو له ايشيا شوه

٭

دا لوټ شوے وطن نور تالا وا لا شو
د امېد د اوربل ګل په رژېدو دے

قتلـول چـې د انـسان پکـښې جـائز وي
دا اصـول نـهٔ د اسـلام نـه د پـښتو دے

زور د علم دې کـه ځـان کـښې پـېـدا نکړو
اے پـښتونه ستا غـرور پـه ختمېدو دے

تـهٔ د عـدم تـشدد سـبق حاصـل کـړه
سـرېتوب سره حاصـل هـر يـو منزل کـړه

*

خلقـو واچـول مـريخ تـه کمندونـه
تـا تبـاه کـړل د خپـل کلـي تـول سـکولونه

ستا مـذهب خـو تـول د امـن ضمانت دے
تـا پـه ځـان پـورې ترلـي دي بمونـه

پـه حـالاتو بانـدې سـوچ اوکـړه کـم عقلـه
سـتا خـلاف دي چـا جـوړ کـړي سازشونـه

Pukhto.Net

متحــد پــه دې خبــرو بانــدې قــام کــړه
د دنيــا دا سازشــونه تــول ناکــام کــړه

نېټه :- ۲۰۰۸ء

Pukhto.Net

# قطعات

Pukhto.Net

٭

د هر چا څۀ مجبوریانې څۀ اصول دي
ګیلې هسې د یارانو نه فضول دي
نو بیا څۀ چل د ے طبیب چې راته وائي
حرکتونه مې د زړۀ حسب معمول دي
نور به څۀ رنګ استحصال زمونږۀ کېږي
چې د ظلم تول قسمونه مو قبول دي

Pukhto.Net

٭

یو زۀ دا ستا په غم لړلے نۀ ۇم
دا ستا په غم راسره تول اخته وو
څۀ به راکړي و ے غتانو د ښار
دوي مې په خپله په کچکول اخته وو
زما زړګے او ستا بانۀ داسې وو
لکه په ښار به چې منګول اخته وو

❋

رانېـغ دې کـړل بانـۀ زمـا خیـګـر تـه مخـامخ
کـه تـورې د فرنـګ شـولې خیبـر تـه مخـامخ
یو خوا مې نادان زړۀ دے بل خوا مینه د جانان
وړه غونـدې کـشتۍ ده سـمندر تـه مخـامخ

❋

بې لـه تـا دا وخـت پـه وخـت نـۀ حـسابېږي
چې دا ستا پـه غـبږ کښې تېر شي وخت هغـه
یـو طـرف تـه دا خـود دار زړګـے زمـا
بـل طـرف تـه پـه مـزاج کـښې سـخت هغـه

❋

Pukhto.Net

✻

دا خزان که وي نو خبر دے آخر کله خو به تېر شي
بُلبل خکه په ژړا دي چې نيلام نې ګلزار کېږي
نۀ د يار په محفلونو کښې قرار د زړګي مومم
نۀ په تکو تورو شپو کښې د وعدو انتظار کېږي
لږ اثر په کښې ساقي د خمارو سترګو شامل کړه
تش په جام ذ شيشې کله تسلي د مېخوار کېږي

✻

خبتې زمونږه په هډوکو کښې څۀ پرېښې نۀ دي
هغه تور سترګي ، سرۀ لباني راته مۀ يادوه
ددې فاني دنيا د خلقو مسئلې نورې دي
واعظه حورې جاوداني راته مۀ يادوه
دومره تيارۀ ده چې تک سپين مخونه نۀ وينمه
په دې کښې زلفې پرېشاني راته مۀ يادوه

*

رقیبه هر ګل ته لاس مه اچوه
د هر چمن مالیار بې ننګه نه وي
لکه چې ما سره نې ته کړې اشنا
د مینې لوبه دومره ګونګه نه وي

*

په ازغو باندې مې واره وجود پرې کړو
خود د ګل په شان مې اوساتله مینه
په ګیلو مې خان رسوا نه کړو ملګرو
په خندا مې وژړله مینه

*

محتسب دې زولنې جوړه وي نوې
مېخواران به مېخانې جوړه وي نورې
په تندې دې د اوربل مطلب څه نور دے
دا یاران ترې افسانې جوړوي نورې

✻

چې مې په خنګ کښې نن صنم ښکلې دے
اوګـوره څـومره نـن موسـم ښـکلې دے
وصـل کـښې تـهٔ نـې جـدایی کـښې دې غـم
هغـه هـم ښـکلې دے دا هـم ښـکلې دے

✻

شـمع د غـېـرو پـه محفـل بلـه شـوه
زمـا خـو د سـتورو يـاراني خوښـې دي
سـاقي جامونـه رانـه مـهٔ غـړه وه
دا خپلې شـونډې مـې ترخـې خوښـې دي

✻

زهٔ تـر څـو بـه وچـو څـانګو پـوزې زانګـم
اے زمـا د امـېـدونو ګلـسـتانه
لـه دردونـو درنـه زړهٔ کـښې امـن غـواړم
اے زمـا د زړهٔ ظالـمـه حکمرانـه

٭

چرته به وار د سرو ګلونو راشي
په هر موسم کښې به ازغي خو نهٔ وي
عاشقان ډېر دي ياره ستا د حُسن
زما غوندې څوک به لېوني خو نهٔ وي

٭

کامياب نهٔ شو غمازان په خپل مقصد کښې
خو بس مينه ئې په مونږ کړله ګنډېره
بې شک نن راته د زهرو ګولۍ راکړه
نن خو لګي دا ګولۍ هم لکه بېره

٭

نن صبا ورځې درنې دي په ملګرو
ساقي تهٔ دې انتظام لره د منيو
تر اسمان وې سلسلې ستا د خيالونو
تر سحره ؤ جادو ستا د خبرو

فلک ناز بنګش په اګست ۱۹۶۱،
کښې د هنګو کلې کښې پېدا شو.
مډل پورې سبق ئې په سلوان سکول
پېښور کښې او لسم جماعت ئې
ګورنمنټ هائې سکول نمبر ۱ هنګو
نه پاس کړو . د ګورنمنټ کالج
هنګو نه د انټر کولو نه پس ئې
اسلامیه کالج پېښور نه
ګریجوېشن اوکړو . د کراچۍ
یونیورسټۍ نه ئې په ۱۹۸۲،
کښې په تاریخ کښې ایم.اے او بیا
د ایس.ایم لاء کالج نه ایل ایل بي
او د ایل ایل ایم ډګرې واخستې. په
۱۹۸۸، کښې ئې په فوځ کښې
کمېشن واخستو او نن صبا د فوځ
په جېګ JAG برانچ کښې د
لیفټننټ کرنل په عهده فائز دے.